DA AFGHANISTAN BANK

# د افغانستان بانک

# کلنی – راپور – سالانه

# ۱۳۸۹



Www.Centralbank.gov.af

# د افغانستان بانک

بانک مرکزی

# کلنی – راپور – سالانه

# ۱۳۸۹

Www. Centralbank.gov,af



## د افغانستان بانک کلنۍ راپور


د اسنادو او اړیکو عمومي آمریت

د اړیکو او خپرونو مدیریت

چمتو کوونکی: عبداللطیف بایاني

ایډیټر: محمد کبیر کاووسي

عکس: زیرک ملیا

ژباړه: عین الله عیان

ډیزاین: عبدالقیوم رووف ارغند



پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان

ټلیفون: ۲۱۰۳۸۱۵ - ۲۱۰۴۳۶۱ - ۰۲۰

بریښنا لیک: info@centralbank.gov.af

ویب پاڼه: www.centralbank.gov.af

# لړلیک

د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام ........................................................
پولي سیاست ..........................................................................................
د افغانستان بانکي نظام ..........................................................................
د بازار عملیات ...................................................................................
د تادیاتو سیستم ..................................................................................
مالي صورت حساب ..............................................................................
اداره او پراختیا......................................................................................

# د افغانستان بانک د ټولو رئیس پیغام



د خوښۍ او وياړ ځای دی، چې يو ځل بيا پر دې بريالی کيږم چې د افغانستان بانک د عالي شورا، مشرتابه پلاوي، مديرانو او کارکوونکو په استازيتوب په ۱۳۸۹ هجري لمريز کال کې د افغانستان بانک د کړنو او لاسته راوړنو نچوړ(لنډيز) د افغانستان ګران ملت ته وړاندې کوم.

د افغانستان بانک د نورو کلونو په شان په ۱۳۸۹ هجري لمريز کال کې هم د اغيزناکه او معقول سياست په پلي کولو سره توانيدلی دی چې د کورنيو ناخالصو توليداتو د حقيقي ودې ملاتړ وکړي او په دې برخه کې مناسب چاپيريال برابر کړي.

د افغانستان بانک د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د خپل لومړني هدف د تامينولو په موخه يعنې د کورنيو قيمتونو د ثبات د خوندي ساتلو لپاره د قيمتونو ديناميزم په څيرتيا سره تر نظر لاندې درلودلی او په دې توانيدلی دی چې په هېواد کې د معقولو پولي سياستونو په رڼا کې د بيو د عمومي کچې له زياتوالی څخه مخنيوی وکړي.

د وارداتي اقتصاد په پام کې نيولو سره، د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال په اوږدو کې پولي پړسوب(تورم) په هېواد کې تقريباً صعودي بهير درلوده، نو ناچاره په نړيواله کچه د هېواد اقتصاد د تورم له نوساناتو څخه اغيزمن کيده چې له امله يې د افغانستان بانک د ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ تر کنټرول لاندې درلوده. که څه هم د همدې کال په لومړی نيمايي کې، د تورم نرخ په پرله پسې توګه په سلو کې له ۴ څخه ټيټ و، خو د ۱۳۸۹ کال د مرغومې په مياشت کې يې ۱۸.۲ سلنې ته زياتوالی ومونده، له نيکه مرغه د کال په پای کې د افغانستان بانک د هر اړخيزو هڅو او کوښښونو له امله، د تورم نرخ مخ په کمېدو او ۸،۱۵ سلنې ته يې ټيټوالی ومونده .

همدا ډول د افغانستان واقعي اقتصادي وده، د ۱۳۸۹ کال د کب د مياشې په پای کې په منځنی ډول ۲،۸ سلنه اټکل شوې ده چې د ښه ورښت له امله په کې د کرنې سکتور (۲۲.۹) سلنه مهم رول درلوده، خو له دې ټولو سره د خدماتو سکتور د ۵۰.۱ سلنې ودې سره تر ټولو مخکې سکتور دی او د صنعت سکتور په دې وده کې ۲۳.۹ سلنه رول لوبولی دی د افغانستان د اقتصادي ودې په پام کې نيولو سره سرانه عايد د افغانستان د مرکزی احصايی اداره د راپور له مخې ۶۲۹ ډالرو ته رسيږي چې په هېواد کې د خلکو د ژوندانه د کچې د لوړيدو او ښه کيدو ښکارندوی دی.

د افغانی مبادلوي نرخ د يو امريکايي ډالرو په وړاندې په لومړی نيمايي کې شاوخوا ۴۸.۴۸ او د کال په پای کې ۴۵.۳۷ افغانی ته ورسيده چې د امريکايي ډالرو په وړاندې د پام وړ زياتوالی ښکاره کوي. په همدې کال کې يو امريکايي ډالر معادل د 45.37 افغانی، يو يورو ۶۴.۱۰ افغانی او يوه پاکستانی روپۍ په ۰.۵۳۲۲ افغانيو مبادله کيدلې چې د نړيوالو اسعارو پر وړاندې د افغانی ثبات ښکاره کوي.

په هېواد کې د افغانستان بانک د معقول پولي سياست پلي کول، دقيقه کارکردګی او د بانکداری سکتور لپاره د مناسب چاپيريال برابرول په ۱۳۸۹ کال کې د دې لامل شو چې افغانستان د پور د لاسرسی د شاخص په اړه د سوداګری په نوم د نړيوال بانک د

خپور شوي راپور له مخې په کال ۱۳۸۹ کې له يو سلو اتيايمې پوړۍ څخه يو سلو اووه ويشتمې پوړۍ ته لوړ شوی دی چې د افغانستان لپاره ستره او ارزښتناکه لاسته راوړنه ګڼل کيږي.

د يادونې وړ دی چې د بانکي نظام شتمنۍ په ۱۳۸۹ هجري لمريز کال کې ۸۴.۲۰۳ ملیارده افغانۍ (۴۰۴۹ ملیارده امریکایي ډالره) ته رسيږي چې د تير کال په پرتله ۱۲. ۹۵ سلنه زياتوالی ښکاره کوي. په بانکي نظام کې د خلکو امانات ۵۳۶.۱۵۶ مليونه افغانۍ (۴۴۴.۰۳ مليونه امريکايي ډالره ) ثبت شوي چې دا شمېره هم د تيرو کلونو په پرتله د پام وړ سلنه ښکاره کوي او په ورته وخت کې د بانکي ستکور ناخالص پورونه ۲۴۲.۸۰ ميلونه افغانۍ(۷۷.۱ ملیارده امريکايي ډالرو) ته رسيږي.

د افغانستان اسعاري زيرمې د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال په پای کې ۴.۵ ملیارده ډالرو ته زياتوالی ومومند، د اسعاري زيرمو زياتوالی په مدبرانه او حساب شوي مديريت سره په مجموعي توګه د هېواد د اقتصادي پيشتوانې د لا پياوړتيا ترڅنګ د پولي سياست په پلي کولو کې اغيزناکه او له ډېر اهميت څخه برخمن دی له همدې کبله د افغانستان بانک د ياد شوي کال په ترځ کې په هېواد کې د پولي تورم د کنټرول په موخه د پولي سياست د يوه مهم ابزار د پلي کولو لپاره شاوخوا ۱.۱۵۲ ملیارده ډالر ليلام کړي دي.

د افغانستان بانک د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د ۱.۵ ملیارده امريکايي ډالرو او ۴۵. ۱۸۸ مليونه يورو په ليلامولو سره د افغانۍ د مبادلوي ارزښت د سختو نوساناتو مخه نيولې ده.

د معقول پولي سياست پلي کول، د بانکي خدماتو عصريتوب، د کارکوونکو د ظرفيت لوړوالی او د وړ حقوقي او قانوني بنسټونو جوړول د افغانستان بانک د پام وړ لاسته راوړنو څخه شمېرل کيږي. په صراحت سره بايد ووايم چې دا پلي کول، پراختيا او پرمختګ، د افغانستان بانک د کارکوونکو له نه ستړي کيدونکو خدمتونو، دوامداره کار او بې دريغه هلو ځلو پرته ناشونې دي چې له فرصت څخه په ګټې اخيستنې سره د هر يو له بې دريغه هلو ځلو، زيار او هاند څخه قدرداني او د زړه له کومې مننه کوم.

هيله لرم چې د افغانستان بانک د هېواد د يو اغيزناکې او مهمې اداري په توګه وکولای شي، د هېواد د اقتصادي ودې، پراختيا، پرمختګ او پرمختيا لپاره د يوه روښانه راتلونکي او له بې وزلۍ او وروسته پاتې کيدنې څخه د خلکو په خلاصون کې وړ او رغنده رول ولوبوي.



نور الله دلاوری

د افغانستان بانک د ټولو رئيس



# پولي سیاست

د نقدینه ګۍ (سیالیت) څرنګوالی

د احتیاطي پیسو کچه

د نقدینه ګۍ د مهارولو لپاره

د افغانستان بانک ابزارونه

اقتصادي وده

پولي تورم (انفلاسیون)

د افغانۍ د مبادلې نرخ

عمده ننګونې

# پولي سياست

## د پولي سياست لاسته راوړنې

پولي سياست د مالي سياست ترڅنګ، د هېواد د اقتصاد د کُلي سياستونو له مهمو ارکانو څخه شمېرل کيږي چې د اقتصادي فعاليتونو لپاره د ښه چاپيريال په برابروني کې بنسټيز رول لري. پولي سياست په ټوليزه توګه هغه تدبيرونه او اقدامات رانغاړي چې په کارونې سره يې د پيسو د عرضې او د پيسو لپاره د تقاضا ترمنځ توازن او تعادل – او له دې لارې د بيو د سطحې ثبات او د نقدينه ګۍ(سياليت) کنټرول د هېواد له اقتصادي ودې سره لاسته راځي. همدارنګه په قيمتونو کې بدلونونه او نوسانات پر اقتصاد باندې ژورې او عميقې پايلې لري. د افغانستان بانک د افغانستان بانک په توګه په افغانستان کې د پولي سياست يوازينی سرپرست او مجري دی چې له ژورې، پراخې او هر اړخيزې مطالعې، تحليل او څېړنې څخه وروسته د هېواد له شرايطو او اقتصادي بدلونونو سره سم وړ او معقول پولي سياست طرحه او ترتيبوي او بيا يې له دوديزه ابزارو څخه په ګټې اخيستنې سره پلي کوي. د افغانی د مبادلوي نرخ د ثبات د خونديتوب له لارې د پولي تورم د نرخ کموالی، د خدماتو او توکو په وړاندې د پيسې د عرضې انډول ساتل او د هېواد د اقتصاد د اړتيا څخه زيات د نقدينه ګۍ (سياليت) کنټرول، د پولي سياست له مهمو هدفونو څخه شمېرل کيږي.

په افغانستان کې د پولي سياست د ارزونې پر بنسټ، د افغانستان بانک او د پيسو نړيوال صندوق(IMF) د بيوزلی د کموالی او د اقتصادي ودې آسانتيا(PRGF) د برنامې په اړوند کې درې هدفونه ټاکلي دي چې عبارت دي له:۱- په جريان کې د پيسو کچه، ۲ـ د اسعاري زيرمو کچه او ۳ـ د احتياطي پيسو کچه (Reserve Money). ياد شوي اهداف چې د يو مالي کال لپاره ټاکل کيږي، د پيسو د نړيوال صندوق د پلاوي لخوا په ربعوار ډول ارزول کيږي چې د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د افغانستان بانک توانيدلی دی چې ټول ياد شوي هدفونو ته ورسيږي. د مروجو اقتصادي نظرياتو پر بنسټ د بيو د کچې د لوړيدو اصلي ريښه کولای شي د دوو عمده اقتصادي عاملونو لامل شي، چې يو يې د توکو او خدماتو د عمومي عرضې کموالی او بل يې توکو او خدماتو لپاره د عمومي تقاضا زياتوالی دی. همدا ډول د پيسو د عرضې زياتوالی د يو هېواد د اقتصاد له اسمي ودې سره چې د پيسو د عرضې له کچې، د توکو او خدماتو د عرضې تر منځ د معقول تناسب د نشتوالی څخه عبارت دی چې دا هم د تورم د مهمو لاملونو څخه شمېرل کيږي. په بله وينا د ټولنې په کچه د پيسو د حجم زياتوالی(د نقدينه ګۍ زياتوالی) د پيسو ارزښت کموي او په پايله کې په اقتصاد کې د توکو او خدماتو د بيو د زياتېدو لامل کيږي.

له همدې امله د افغانستان بانک د هېواد دننه د بيو له نوساناتو څخه د مخنيوي او د تورم ( د قيمتونو د عمومي کچې زياتوالی) د ريښو او د رامنځ ته کېدونکو علتونو د مهارولو لپاره په اقتصاد کې د نقدينه ګۍ د کچې ښکاره کوونکي شاخصونه په څېرتيا سره په پام کې لري.

په اقتصاد کې د نقدينه ګۍ د کچې د ښکاره کولو تر ټولو مهم شاخصونه د احتياطي پيسو (د زيرمه شويو پيسو) او په ګرځښت کې د پيسو کچه ده. په ټولنه کې د موجوده اقتصادي شرايطو، حالاتو او د بانکي سکتور د نا کافي ودې په پام کې نيولو سره، افغانستان بانک د بې وزلی د کمولو او د اقتصادي اسانتيا له برنامې سره په همغږی، دا شاخصونه د ملاک او د نقدينه ګۍ د وضعيت د معيار په توګه په اقتصاد کې منلي دي.

## په ۱۳۸۹ کال کې د نقدینه ګۍ (سیالیت) څرنګوالی

د افغانستان بانک په هېواد کې د نقدینه ګۍ د څارنې په موخه د احتیاطي پیسو کچه او په ګردښت کې د پیسو وده کنټرولوي. په دوران کې پیسې هغه افغانۍ پیسې دي چې خپرې شوې وي او هغه پیسې په کې شاملې نه دي چې د هېواد په ولایتونو او مرکز کې د افغانستان بانک په خزانو کې موجودې دي. د یاد شوي کال په پیل کې په ګردښت کې د پیسو مجموع شاوخوا ۹۹ ملیارده افغانۍ ثبت شوې وه، خو په هېواد کې د پولي تورم د مثبت بهیر د دوام له امله د ۱۳۸۹ کال په دویمه نیمایي کې پر دې کچې بیا کتنه وشوه او ۲۹.۶ سلنې ته زیاته شوه. خو د افغانستان بانک د ارزونو پر بنسټ، د همدې کال د دویمې نیمایي په اوږدو کې افغانۍ پیسو لپاره د تقاضا زیاتیدو او د بهرنیو څواکونو او دولت زیاتو لګښتونو د پیسو د ودې کنټرول تر ۲۹.۶ سلنې کچې لاندې ناشونی کړ او دا شمېره د کال په پای کې ۲۹.۸ سلنې ته لوړه شوه چې له امله یې په ګردښت کې د پیسو مجموع ۱۲۸ ملیارده افغانۍ اټکل شوې وه خو د کال په پای کې په ګردښت کې د پیسو مجموع شاوخوا ۱۳۲ ملیارده افغانۍ ته ورسید. د دولت لګښتونه یوازې د ۱۳۸۹ کال د کب په میاشت کې شاوخوا ۲۲ ملیارده افغانۍ او تولیزه لګښتونه د همدې کال په درېیو وروستیو میاشتو کې ۴۴ ملیارده افغانۍ په ګوته شوي دي. دا په داسې حال کې چې د تیرو درېیو کلونو په اوږدو کې د افغانستان د دولت میاشتنیو لګښتونو منځنۍ حد شاوخوا ۹.۵ ملیارده افغانۍ ؤ.

(ارقام په ملیون افغانۍ)




ګراف: په ۱۳۸۹ کال کې په ګردښت کې د پیسو وده ښکاره کوي

د ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۹ کال پورې د پیسو د خپرولو تراکمي کچه(په میلیون افغانۍ) پایین تکرار است دلت شود




د ۱۳۸۱ کال څخه تر ۱۳۸۹ کال پورې د پیسو د خپرولو تراکمي کچه(په میلیون افغانۍ)

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د نویو پیسو د خپرولو ترڅنګ د زړو او مندرسو پیسو د لمنځه وړلو لړۍ هم تر لاس لاندې لري. دا چې د زړو پیسو موجودیت هیوادوالو ته زیاتې ستونزې پیدا کوي، له همدې امله د افغانستان بانک د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د زړو او مندرسو پیسو د بدلیدلو(تعویض) لړۍ په جدیت سره تعقیب کړه او ناقصې، زړې او مندرسې پیسې یې لمنځه یوړې. لاندې جدول د تیرو څو کلونو په اوږدو کې د زړو پیسو د له منځه وړلو بهیر ښکاره کوي.



## د احتیاطي پیسو کچه

په اقتصاد کې د نقدینه ګۍ له شاخصونو څخه یو هم د احتیاطي پیسو کچه ده چې په ګردښت کې د پیسو له مجموع او د افغانستان بانک د بانکي سیستم د افغانی له سیاله اماناتو څخه لاسته راځي. دا شاخص په اقتصاد کې د نقدینه ګۍ د رامنځته کیدو په برخه کې د سوداګریزو بانکونو توانايي ښکاره کوي.

د اصولو له مخې د نقدینه ګۍ کچه په یو اقتصاد کې باید د یو هیواد له اسمي اقتصادي ودې سره متوازنه او متناسبه وي، که چیرې د نقدینه ګۍ کچه له اسمي اقتصادي ودې سره متناسب زیاتوالی ونه کړي، نو د بیو او پولي تورم د نرخ د لوړیدو لامل کیږي او برعکس به یې د بیو د ټیټیدو او اقتصادي کړنو د کمیدو لامل شي. په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې د افغانستان بانک د احتیاطي پیسو وده د اصلي شاخص په توګه تعقیبوله، په داسي حال کې چې په ګردښت کې د پیسو وده یې هم په پام کې وه.

د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال په پیل کې د احتیاطي پیسو د ودې کچه په سلو کې ۲۳ ټاکل شوې وه. خو له هغه ځایه چې د یاد شوي کال په لومړي نیمايي کې، د احتیاطي پیسو کچې د پام وړ زیاتوالی درلوده له همدې امله د دې شاخص پر اقتصادي کچې بیا کتنه وشوه چې ۲۱.۹ سلنه وټاکل شوه. په هیواد کې د پولي تورم د مثبت بهیر په پام کې نیولو سره، د احتیاطي پیسو د کچې نهايي وده په همدې کال کې ۱۹.۷ سلنه ته ورسیده.

## د نقدینه ګۍ د مهاروولو لپاره د افغانستان بانک ابزارونه

### ۱– په ګردښت کې د پیسو مهارول

په یو هیواد کې د بیو د ټیکاو لپاره د پولي سیاست تر ټولو مهم او دودیزه ابزار د بازار د عملیات دی. خو اوس مهال چې د دولت کسري بودجه او د نورو دولتي او غیر دولتي بنسټونو بودجه په عمومي توګه د بهرنیو مرستو له لارې تامین کیږي، په هیواد کې د سرمایوي پانګو بازار لا تر اوسه عملي شوی نه دی او په ګردښت کې د پیسو د کنټرول لپاره د پولي سیاست تر ټولو مهم ابزار د بهرنیو اسعارو پلورل دي. له همدې امله د افغانستان بانک د ۱۳۸۹ هجري لمریز کال په ترڅ کې په ټولیزه توګه ۱,۴۸۲.۵۳ ملیونه امریکایي ډالر او شاوخوا ۱۸۸.۴۵ ملیونه یورو پلورلي دي. د بهرنیو اسعارو د پلورلو راپور په دریمه برخه (د بازار عملیات په راپور) کې په تفصیل سره وړاندې کیږي.

### ۲– د احتیاطي پیسو مهارول

د افغانستان بانک د احتیاطي پیسو د کنټرول لپاره درې ابزاره په واک کې لري.

۱– د بهرنیو اسعارو پلورل، ۲ د بیه لرونکو پانګو پلورل، او ۳– د اجباري زیرمو اندازه.

دا درې ابزارونه په مختلفو درجو په احتیاطي پیسو باندې تاثیر اچوي. له دې ابزار څخه په عمومي توګه په ګردښت کې د پیسو د کنټرول لپاره ګټه اخیستل کیږي. کله چې د احتیاطي پیسو د ودې بهیر کنټرولیږي، لازمه ده چې د بانکي سیستم د نقدینه ګۍ (سیالیت) زیاتوالی هم کنټرول شي. د همدې لپاره له بیه لرونکو پانګو څخه ګټه اخیستل کیږي. بیه لرونکي پانګې، د پانګې اچونې هغه لنډ مهاله اسناد دي چې خصوصي بانکونه یې په مرسته خپلې اضافي زیرمې د پانګې اچونې په توګه له مرکزي بانک سره ږدي.

په بانکي سکتور کې د نقدینه ګۍ زیاتوالی، د اقتصادي کړنو د زیاتیدو او ورسره سم د پولي تورم د لوړیدو لامل کیږي، نو د دې ابزار د معرفی عمده لامل د بانکي سکتور د نقدینه ګۍ کنټرول دی. د بیه لرونکو پانګو د پلورلو او بهرې نرخونو اړوندو ارقامو راپور د بازار عملیات په برخه کې وړاندې کیږي.

## اقتصادي وده:

د تیرو نهو کلونو په اوږدو کې د افغانستان اقتصادي وده په منځنۍ ډول په کال کې شاوخوا ۱۲.۹۲ سلنه ثبت شوې ده، چې عمده لامل یې د اقتصادي کړنو زیاتوالی او نړیوال مساعدتونه ګڼل کیږي. په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې د افغانستان واقعي اقتصادي وده په سلو کې شاوخوا ۸.۲ اټکل شوې ده. د افغانستان په اقتصادي وده کې د دې زیاتوالي اصلي لامل په عمومي توګه د کرنې سکتور ودې ته منسوبیږي. د مختلفو اقتصادي سکتورونو د ونډو له مخې، د کرنې سکتور ونډه په روان کال کې شاخوا ۲۲.۹ سلنه، د صنعتي سکتور ونډه په سلو کې ۲۳.۹ او د خدماتو سکتور ونډه په سلو کې شاوخوا ۵۰.۱ اټکل شوې ده.

د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کلونو کې د هېواد په اقتصاد کې د خدماتو د سکتور ونډه په پرله پسې توګه زیاتوالی موندلی او د کرنیز سکتور وده د هوا د حالاتو په پام کې نیولو سره په نوسان کې ده. د اټکلونو پر اساس په ۱۳۸۸ کال کې د خدماتو د سکتور ونډه ۴۳.۸۵ سلنه وه چې دا شمېرې په ۱۳۸۹ کال کې ۵۰.۱ سلنې ته زیاته شوه. په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو د زیاتیدو په پام کې نیولو سره په هېواد کې بهرنيٍ مستقیم لګښتونو د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې زیاتوالی وموندہ. د پارلماني انتخاباتو اړوند فعالیتونو هم مهم لګښتونه له ځانه شره درلوده چې دواړه موارد په عمومي توګه په هېواد کې د اقتصادي کړنو او اسعاري زیرمو د کچې د زیاتیدو لامل شوي دي. د هېواد اقتصاد واقعي وده د ۱۳۹۰ کال لپاره شاوخوا ۷.۴ سلنه وړاندوینه شوې ده. له همدې امله، د دې ودې تحقق د کرنې د سکتور د کارکردګیو له څرنګوالي سره تړاو لري. د تیرو کلونو د شمېرو پر اساس دې سکتور، په عمومي توګه په هېواد کې د ناخالصه ملي تولیداتو په واقعي وده کې هر ډول بدلونونه د کرنې سکتور د بدلونونو له امله راغلي دي.

لاندې جدول په تیرو کلونو کې د هېواد د اقتصادي ودې مهم شاخصونه وړاندې کوي

| | ۱۳۸۱ | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ | ۱۳۸۹ | ۱۳۹۰ (وړاند وینه) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ناخالصه ملي تولیداتو واقعي وده | ۲۸.۶ | ۱۵.۱ | ۹.۴ | ۱۶.۱ | ۸.۲ | ۱۴.۲ | ۳.۴ | ۲۰.۴ | ۸.۲ | ۷.۴ |
| د ناخالصه ملي تولیداتو اسمي وده (ملیارد افغانی) | ۱۸۳ | ۲۲۵ | ۲۸۶ | ۳۲۲ | ۳۸۵ | ۴۸۵ | ۶۰۰ | ۷۱۴ | ۸۰۱ | ۹۲۴ |
| د ناخالصه ملي تولیداتو اسمي وده (ملیارد ډالر) | ۴.۰۸ | ۴.۶ | ۵.۹۵ | ۶.۴۸ | ۷.۷ | ۹.۷ | ۱۱.۸ | ۱۴.۵ | ۱۷.۰ | ۱۹.۹ |
| د پولي پرسوب نرخ(د کال پای) | ۲۶.۶ | ۱۰.۱ | ۱۴.۹ | ۹.۵ | ۴.۸ | ۲۰.۷ | ۳.۲ | -۵.۱ | ۱۵.۸ | ۵.۰ |
| د پولي پرسوب نرخ( د کال اوسط) | ۵.۱ | ۲۴.۱ | ۱۳.۲ | ۱۲.۳ | ۵.۱ | ۱۳.۰ | ۲۶.۸ | -۱۲.۲ | ۶.۹ | ۷.۸ |

لاندې ګراف په تیرو نهو کلونو کې د ناخالصه کورني تولیداتو اسمي وده ښکاره کوي




## پولي تورم (انفلاسیون)

په۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې پولي تورم په هېواد کې تقریباً صعودي بهیر درلوده، خو له هغه ځایه چې افغانستان یو واردونکی هېواد دی، نو ناچاره په نړیواله کچه د تورم څخه اغیزمن کېږي. همدا ډول له پاکستان سره ترانزیټي ستونزې او په هغه هېواد کې د سیلابونو راوتل، د روسیې په ځنګلونو کې اور لګیدنه او له ایران اسلامي جمهوریت سره ترانزیټي ستونزې لامل شوې چې د وارداوونکو توکو قیمتونه په ځانګړې توګه د خوراکي توکو د پام وړ زیاتوالي ومونده، چې په پایله کې د پولي تورم منحنې خپل صعودي بهیر پیل کړ او دې صعود د ۱۳۸۹ کال تر غوېي میاشتې پورې دوام پیدا کړ. که څه هم د همدې کال په لومړنی نیمایي کې، د تورم نرخ په پرله پسې توګه په سلو کې ۶ څخه ټیټ ؤ، خو د وري له میاشتې وروسته د تورم نرخ صعودي بهیر درلوده او د ۱۳۸۹ کال د مرغومې په میاشت کې د تورم نرخ ۱۸.۲ سلنې ته زیاتوالي ومونده. خو له نیکمرغه د کال په پای کې د تورم د مهار په موخه د د افغانستان بانک د سیاستونو په پایله کې، د تورم نرخ ورو ورو نزولي بهیر پیل کړ. همدا ډول د تورم شاخص د ۱۳۸۹کال د مرغومې په میاشت کې له ۱۸.۲ سلنه صعود څخه وروسته د ۱۳۸۹ کال د کب په میاشت کې ۱۶.۶ سلنې ته راټیټ شو. د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د پولي انقباضي سیاست په غوروالي سره، د پرسوب کورنې لاملونه مهار کړي دي. سربېره پر دې د بهرنیو اسعارو په وړاندې د افغانی ارزښت تر یوې کچې پورې وکړای شول د وارداتي تورم او د مبادلوي نرخ نه راپورته شوی پرسوب جبران کړي. باید څرګند کړو چې د اقلامو په لګښتي ټوکرۍ کې د خوراکي موادو ونډه په سلو کې ۶۱.۳ او د سون موادو ونډه په سلو کې نږدې ۷ ده. د دې دوو برخو په بیو کې زیاتوالی کولای شي په هېواد کې د تورم د نرخ د زیاتوالي لامل شي او په پایله کې زموږ هېوادوال او په خاصه توګه بې وزله خلک ډېر زیات زیانمن کړي.

باید زیاته کړو چې د افغانستان د ډېرو خلکو ژوند له کرنې او کرنیزو محصولاتو سره تړلی دی، نو د هېواد کرنیز سکتور ته هر

ډول زيان او تاوان، د ټولنې د اقتصادي اوضاع د ګډوډۍ لامل کيږي. په همدې ترتيب يو بل لامل چې د همدې کال په اوږدو کې يې د قيمتونو د کچې په لوړېدو باندې ډېر اغيز درلود د کرنيزو محصولاتو کموالی ؤ، افغانستان په ۱۳۸۹ هجري لمريز کال کې د وچکالۍ له سختو ستونزو سره لاس او ګريوان ؤ.

لاندې ګراف د ۱۳۸۴ کال څخه تر ۱۳۸۹ کال پورې د پولي تورم نرخ د خوراکي او ناخوراکي توکو توپير ښکاره کوي




څرنګه چې په پورتني ګراف کې ليدل کيږي، د خوراکي توکو د تورم نرخ د ناخوراکي توکو په پرتله (شين منحني چې تل د صفر له کرښې څخه لوړ قرار لري او له کم نوسان څخه برخمن ده) په زيات نوسان کې ده. د ناخوراکي توکو پولي تورم چې د اقتصادي کړنو له امله د تورم بيانوونکی ده او څېړنه يې اقتصادي سياست مدارانو ته زيات ارزښت لري. که څه هم د کُلي تورم نرخ هم زيات ارزښت لري، خو د پولي سياست طرح کوونکي د تورم اصلي نرخ او يا هسته په پام کې نيسي. دا د دې لپاره چې د کلي تورم نرخ د اقلامو په ټولو لګښتي توکريو کې شامل دی، نو څکه د زياتو نوساناتو لرونکی ده. په داسې حال کې چې د پولي سياست طرح کوونکي په هېواد کې د اقتصادي کړنو له امله د تورم نرخ ته متوجې دی او له همدې کبله د مختلفو روشونو څخه په استفادې کوښښ کوي ترڅو د اصلي تورم نرخ محاسبه کړي. د افغانستان مرکزی بانک د کلي تورم د سنجش تر څنګ د مختلفو ميتودونو څخه په ګټې اخيستنې سره د تورم اصلي نرخ يا هسته محاسبه او تر څېړنې لاندې نيسي. د دې ميتود اصلي موخه د پولي تورم له نرخ څخه د زيات نوسان لرونکو اقلامو له منځه وړل دي. د يادونې وړ ده چې د افغانستان بانک منځ مهاله موخه، د ۳ او ۵ سلنې ترمنځ د پولي تورم د نرخ ساتل دي چې د افغانستان له اقتصادي شرايطو سره مطابقت ولري. له هغه ځايه چې نړيوال سازمانونه د اقتصادي او پولي مسايلو په برخه کې کار کوي، باور لري چې د خوراکي توکو د بيو لوړوالی په خاصه توګه په هغه هېوادونو کې چې وارداتي اقتصاد ولري، مقطعي نه وي او ښايي پر نورو توکو د هغوي د منفي اغيزې د مخنيوي لپاره وړ لارې چارې ولټول شي، نو اړينه بريښي چې دولت د لنډ مهاله موخې په توګه د استراتيژيکو زيرمو په جوړونې او د اوږد مهاله موخې په توګه پر بهر د هېواد د ډډې وهونې د کموالي او د کورنۍ اړتيا د کمېدو لپاره د افغانستان د کرنيز سکتور د ظرفيت د ودې لپاره جدي اقدامات تر لاس لاندې ونيسي.

## د افغانی د مبادلې نرخ

د افغانستان بانک عملاً د افغانی مبادلوي نرخ تر موخې لاندې نه نیسي، خو بې له شکه پر اقتصادي شاخصونو د مبادلې د نرخ د نوساناتو منفي اغیزو ته متوجې وي او هڅه کوي چې د افغانی ارزښت په منل شوي کچه ثابت وساتي او د افغانی د مبادلې نرخ د سختو نوساناتو مخنیوی وکړي. د افغانی مبادلوي نرخ د یو امریکایي ډالر په وړاندې په تیرو کلونو کې په پرله پسې توګه تل شاوخوا ۵۰ افغانی پاتې دی. خو له نیکمرغه د ورکړې په موخه پر افغانی باندې د خلکو د اعتماد زیاتوالي، اسعاري زیرمې، د هیواد په مختلفو سیمو کې د افغانی د ګردښت د ساحې پراخول او همدارنګه په زیاته کچه د بهرنیو اسعارو په خانګړې توګه د نړیوالو ایتلافي ځواکونو له خوا د امریکایي ډالر راننوتل او داسې نور تمویلونکي د دې لامل شو چې د افغانی ارزښت د امریکایي ډالرو په وړاندې ۷ سلنه زیاتوالی ومونده. د ۱۳۸۹ کال د وري د میاشتې په لومړیو کې د افغانی مبادلوي نرخ د یو امریکایي ډالر په وړاندې شاوخوا ۴۸.۴۸ افغانی ؤ، چې د همدې کال د کب د میاشتې په پای کې ۴۵.۳۷ افغانی ته ورسید او دا په دې مانا چې په همدې موده کې د افغانی ارزښت د بهرنیو اسعارو په وړاندې ۶ سلنه زیاتوالی کړی دی. لاندې ګراف د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلوي نرخ بهیر ښکاره کوي

باید یادونه وکړو چې د افغانستان بانک د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د ۱.۵ ملیاردو څخه زیاتو امریکایي ډالرو او شاخوا ۱۸۸



مليونه يورو په پلورلو سره، د افغانۍ د مبادلوي ارزښت د سختو نوساناتو مخه نيولې ده. د بهرنيو اسعارو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ د نوساناتو کموالى او د تورم کنټرول په دې څو ورستيو کلونو کې د افغانستان بانک د پام وړ برياوو څخه شمېرل کيږي، چې دا د سيمې په کچه د مبادلوي ارزښت د ټيکاو يوه ښه بېلګه ګڼل کيږي او دا کار لامل شو چې زمونږه ګرانو هېوادوالو په افغانۍ باندې ورځ تر بلې اعتماد پيدا کړى او په خپلو راکړو او ورکړو کې ورڅخه کار اخلي.

## د پولي سياست په ترسره کولو کې د افغانستان بانک پر وړاندې مهمې ننګونې

د هر دولت اقتصادي سياست، په ځانګړې توګه د پولي سياست اجراء کول په هر هېواد کې له يو لړ ستونزو او ننګونو سره مخ وي. افغانستان هم له دې قاعدې څخه بې برخې نه ده او تل له مختلفو ستونزو او ننګونو سره لاس او ګريوان دى.

همدا دول په يو هېواد کې د پولي سياست پلي کول هغه وخت اغيزناکه تماميداى شي چې له تحولاتو څخه په نورو اقتصادي شاخصونو کې په ځانګړې توګه له مالي سياست( بودجوي لګښتونه او دولتي عوايدو) څخه دقيقه وړاند وينه موجوده وي. سر له دې چې د تېرو کلونو په اوږدو کې د پولي او مالي سياستونو د پلي کوونکو سرچينو (د افغانستان بانک او د ماليې وزارت) تر منځ لازمي همغږۍ موجودې وې، خو د مختلفو عواملو د دقيقې وړاند وينې پر اساس د افغانستان دولتي لګښتونه په مياشتنۍ توګه له ډېرو ستونزو سره مخ شوي دي.

د نړيوالو ايتلافي ځواکونو د لګښتونو له لارې د زياتو بهرنيو اسعارو د راننوتلو تر څنګ د هېواد په اقتصاد کې د بهرنيو اسعارو د کچې زياتوالى هم له هغه ستونزو څخه ګڼل کيږي چې د پولي سياست اجراء کولو ته يې يو لړ ستونزو راولاړې کړي دي. که څه هم د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال په ترڅ کې د پولي تورم نرخ تل مثبت او مخ په زياتيدو ؤ، خو بيا هم د پولي تورم نرخ د همدې کال په لومړيو کې تر صفر لاندې قرار درلود. په پايله کې په پاکستان او د هېواد په ځينو سيمو کې سيلابونه راتلل، په روسيه کې اور لګيدنې او همدا دول له پاکستان او ايران سره ترانزيټي ستونزې لامل شوې چې په هېواد کې د بيو کچې زياتوالى ومونده چې دې بهير د ۱۳۸۹ کال تر مرغومې مياشتې پورې دوام پيدا کړ. سره له دې چې دې بهير د ۱۳۸۹ کال د مرغومې له مياشتې وروسته بيرته ټيټوالى ومونډ، خو ۱۳۸۹ کال د افغانستان بانک لپاره د پولي سياست په اجراء کولو کې يو له ستونزو او ننګونو ډک کال ؤ.






# د افغانستان بانکي نظام

د بانکي نظام د کړنو څرنګوالی
د بانکي نظام د شاخصونو وده
د شتمنیو وده
د پورونو وده
د بانکي نظام شاخصونه
په بانکي نظام کې ټولیزه شتمنی
په بانکي نظام کې ټولیزه پورونه
په بانکي نظام کې امانات
د افغانستان د بانکي نظام پانګه او ګټه
نقدینه ګی(سیالیت)
د بهرنیو اسعارو پرانیستی وضعیت

# د افغانستان بانکي نظام

## د بانکي نظام د کړنو ځرنګوالی

د ټولو مالي مؤسساتو سیالیت او پرانیستي وضعیت (پرته له خلورو بانکونو چې د اسعارو له عمومي او انفرادي پرانیستي حد څخه یې سرغړونه کړې ده) د افغانستان بانک د ټاکل شوي حدودو سره په مطابقت کې دي. د بانکي سیستم ټولیزه شتمنې او امانات د کب په میاشت کې صعودي بهیر درلود، خو د بانکي سیستم ټولیزه پورونو بیا په همدې میاشت کې نزولي بهیر درلوده.

د افغانستان بانکي سیستم له ۱۷ بانکي مؤسسو(دوه دولتي بانکونه، ۱۰ خصوصي بانکونه او ۵ د بهرنیو بانکونو نمایندګۍ) څخه جوړ شوی دی. په هیواد کې د۱۳۸۹ کال د موجوده نمایندګیو او نورو بانکي آسانتیاوو شمېر په لاندې ډول وړاندې کیږي:

| په هیواد کې د بانکي اسانتیاو رامنځته کېدل | شمېر |
|---|---|
| له بشپړ خدماتو سره نمایندګی | ۱۷۷ |
| له محدود خدماتو سره نمایندګی | ۱۸۴ |
| د صرافي اتومات ماشینونه( نوع ۲۲ ) | ۸۸ |
| نوري اسانتیاوې (نوع ۲۱،۲۴،۲۵) | ۱۰۱ |
| د پلورلو ځایونه(نوع ۲۳) | ۱۹۴ |
| مجموع | ۷۴۴ |

**د ۲۱ ډول اسانتیاوې:** هغه واحد یا دفتر چې د پورونو د اجراء کولو واک لري، خو د پورونو د ورکولو واک نه لري.

**د ۲۴ ډول اسانتیاوې:** د ورکړې د اسانتیاو دفتر(واحد) لکه د دولتي یا غیر دولتي کارکوونکو د معاشونو ورکول او د مشتریانو لپاره داسې نورې ورکړې رانغاړي.

**د ۲۵ ډول اسانتیاوې:** د پیسو د لاسته راوړلو خدماتي دفتر: دا واحدونه یوازې له عامه خلکو څخه د پیسو د راټولولو خدمات وړاندې کوي چې انفرادي او شرکتي حسابونو ته ( معمولاً سفارتونه، هوټلونه او داسې نور په بر کې نیسي) چې د پیسو د تر لاسه کولو وروسته رسید صادروي. دا ډول اسانتیاوې کولای شي په نظامي ځایونو، سفارتونو، هوټلونو او داسې نورو ځایونو کې وړاندې کړی.

**د ۲۳ ډول اسانتیاوې:** په پلورنځایونو کې خدماتي شبکې پورته اسانتیاوې د کابل ښار په شمول د هیواد په ۳۴ ولایتونو، د بدهي او اعتبار کارتونه د هیواد په ۸ ولایتونو او کابل ښار کې د لاسرسي وړ دي.

همدا ډول، تر اوسه پورې ۳۳۱ د پولي خدماتو وړاندې کوونکو او ۶۵۴ صرافانو ته جوازونه ورکړل شوي دي. په کابل کې د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو شمېر ۲۲۶ او د هیواد په نورو ولایتونو کې ۱۰۵ تنو ته رسیږي. سربېره پردې په مرکز او ولایتونو کې د پولي خدماتو د وړاندې کولو ۱۹۱ نمایندګۍ په فعالیت بوختې دي. په کابل کې د صرافیو شمېر ۲۴۸ او د هیواد په ولایتونو کې ۴۰۶ ته رسیږي.

| د بدهي او اعتبار کارتونه | شمېر |
|---|---|
| د بدهي کارت | ۴۴،۳۸۸ |
| د اعتبار کارت | ۱،۱۸۹ |
| مجموع | ۴۵،۵۷۷ |

د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو او صرافيو شمېر




# د بانکي نظام د شاخصونو وده

## د شتمنيو وده

د ۱۳۸۹ هجري لمريز کال د وري په مياشت کې د شتمنيو ودې منفي بهير درلوده، چې اصلي لامل يې د بانکي نظام په ټولیزه پورونو کې ستر ټيټوالی او په يوه بانک کې د احتمالي خطراتو لپاره د ځو لويو پورونو د بنديدو کموالی ښودل شوی دی. خو د وري په مياشت کې بيا بانکي نظام فوق العاده وده درلوده، چې اصلي لامل يې د بانکي نظام په نورو شتمنيو کې د پام وړ زياتوالی دی، په داسې حال کې چې تيره مياشت يې د ګراف په منفي ساحه کې قرار درلوده، چې اصلي لامل يې په مالي مؤسسو، د بانکي سيستم د شتمنيو د نورو کټګوريو په طلباتو او د افغانستان بانک په طلباتو کې کموالی دی. د بانکي سکټور ټولیزه شتمنې د لړم د مياشتې په اوږدو کې، د پام وړ ټيټوالی ښکاره کوي چې د دې ټيټوالی عمده لامل د بانکي سکتور په يو مالي موسسه کې د پورونو د خسارې د جبران لوړيدل دي چې د دې موسسې شتمنی تر بررسی لاندې قرار لري. د ۲۰۱۱ کال په لومړي مياشت کې د بانکي سيستم شتمنی د ۲.۴۶ سلنې په اندازه زياتوالی مونډلی او د ګراف په مثبته ساحه کې قرار لري، د دې زياتوالي لامل په نورو شتمنيو، په خزانو کې د نقدي پيسو او د افغانستان بانک سره د جاري حسابونو زياتوالی دی، د بانکي سيستم شتمنی د ۲۰۱۱ کال په دويمه مياشت کې وده کړې، خو سست بهير يې درلوده، د بانکي سيستم شتمنی د ۲۰۱۱ کال په دريمه مياشت کې په سلو کې ۲.۲۹ وده ښکاره کوي چې د لا وضاحت لپاره، د شتمنيو وده په لاندې ډول وړاندې کيږي:




## د پورونو وده

د بانکي نظام ټولیزه پورونه په ۱۳۸۸ کال کې تصاعدي بهیر درلوده. ټولیزه ناخالص پورونه د وري په میاشت کې له منفي ۲ سلنې ودې څخه د ۱۳۸۹ کال په کب کې مثبت ۳،۶۴ سلنه ودې ته زیاتوالی ومونده، سره له دې چې د پورونو ودې د وري په میاشت کې نزولي بهیر ښکاره کاوه، خو د غویي په میاشت کې یې بر عکس فوق العاده وده درلوده چې د ۵.۳۵ سلنې ودې اصلي لامل په بانکي سکتور کې د ټولیزه پورونو وده ده. د زمري په میاشت کې د بانکي سیستم د پورونو ودې اعظمي حد غوره کړ او په دې وده کې یو بانک تر ټولو زیات سهیم ؤ. د ۱۳۸۹ کال د مرغومي په میاشت کې د بانکي سیستم پورونه په سلو کې ۰.۷۴ ټیټوالی درلوده چې په عمومي توګه د دې ټیټوالي لامل د بانکي سیستم د دوو بانکونو په ټولیزه پورونو کې ټیټوالی ښودل شوی دی. د کب په میاشت کې د بانکي سیستم ټولیزه پورونه په سلو کې ۰.۵۶ ټیټوالی ښکاره کاوه، په لاندې ګراف کې کولای شی د ۱۳۸۸ کال څخه تر ۱۳۸۹ کال د کب تر میاشتې پورې د پورونو د ودې بهیر په وضاحت سره وګورئ.



## د اماناتو وده

د بانکي سیستم امانات د ۱۳۸۹ کال د غويي په میاشت کې زیاتوالی وموند او د ګراف په مثبته ساحه کې يې ځای ونیوه، په داسي حال کې چې د وري په میاشت کې يې نزولي بهیر درلوده او اصلي لامل يې ۰.۴۱ سلنه د بین البانکي حسابونو د موعد سررسید ټيټوالی دی. د ۱۳۸۹ کال د تلې په میاشت کې د بانکي سیستم امانات د ګراف په مثبته ساحه کې قرار ونیوه په داسي حال کې چې د وږي په میاشت کې د ګراف په منفي ساحه کې يې قرار درلوده چې د دې ټيټوالي لامل په بانکي سیستم کې د یو بانک په اماناتو کې کموالی دی. د بانکي سیستم امانات د مرغومي په میاشت کې ۰.۱۸ سلنه ټيټوالی ښکاره کوي چې یو شمېر بانکونه هم په دې ټيټوالي کې شريک دي، خو یو شمېر نورو اماناتو بیا زیاتوالی ښکاره کړی دی. د کب په میاشت کې د بانکي نظام وده په سلو کې ۱.۹۲ ښودل شوې ده. د لا زیات وضاحت لپاره، د دوو کلونو د اماناتو وده په لاندې توګه وړاندې کیږي.




## د بانکي نظام شاخصونه

### په بانکي نظام کې ټولیزه شتمني

د بانکي سیستم ټولیزه شتمني په ۱۳۸۹ کال کې ۲۰۳.۸۴ ملیارده افغانۍ (۴.۴۹ ملیارده ډالره) ته زیاته شوې چې د ۱۳۸۸ کال له پای (د ۲۰۱۰ مارچ) څخه ۱۲.۵۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په داسي حال کې چې د ۱۳۸۸ کال په کب کې د بانکي نظام ټولیزه شتمني ۱۸۱.۰۴ ملیارده افغانۍ (۳.۸۵ ملیارده ډالره) وه. چې له دې ډلې څخه د دولتي بانکونو ټولیزه شتمنۍ په دې دوره کې تر ټولو ډېره وده درلوده چې دا وده د تېر کال په پرتله په سلو کې ۲۷.۴۱ زیاتوالی ښکاره کوي. د خصوصي بانکونو د ګروپ ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۸۸ کال د کب د میاشتې په پرتله شاوخوا ۱۰.۳۶ سلنه وده کړې ده او د بهرنیو بانکونو د څانګو ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۸۸ کال د کب په پرتله ۱۰.۰۳ سلنه وده ښکاره کوي. د سلواغې د میاشتې په پرتله د بانکي سیستم شتمنۍ په سلو کې ۲.۲۹ وده کړې ده. په دې وده کې په عمومي توګه ( نورې خالصې شتمنۍ)، (په خزانه کې نقدي پيسې او د افغانستان بانک سره جاري حسابونه) ونډه لري. خو ( په مالي موسسو باندې طلباتو) په سلو کې ۱۰.۳۶ کموالی موندلی دی چې په دې کموالي کې یو شمېر بانکونه هم ونډه لري. د دې بهیر مجموعه د ۱۳۸۲ کال څخه د ۱۳۸۹ کال تر کب پورې په لاندې ګراف کې وړاندې کیږي.

د بـانکي نظـام ټولـیزه شـتمني، اخیسـتل شـوي پورونـه او پانګـه ورانـدې کـوي




د څو کلونو په اوږدو کې د بانکي ګروپونو ونډه د بانکي سیستم په ټولنیزه شتمنی کې
( ارقام په په ملیون ډالر)



| د ۱۳۸۹ کال د کب (د ۲۰۱۱ مارچ) له قراره په ترتیب سره د بانکي سیستم د شتمنیو جدول | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | بانکونه | شتمنی (په ملیون افغانۍ) | له ټولیزې شتمنۍ څخه د هر بانک ونډه |
| ۱ | کابل بانک | ۵۳.۱۵۰ | ۲۶.۰۸ ٪ |
| ۲ | عزیزي بانک | ۲۷۰. 28 | ۱۳.۸۷ ٪ |
| ۳ | د افغانستان نړیوال بانک | ۲۰۴. 23 | ۱۱.۳۸ ٪ |
| ۴ | افغان ملي بانک | ۸۶۲.17 | ۸.۷۶ ٪ |
| ۵ | پښتني سوداګریز بانک | ۱۵.۵۱۲ | ۷.۶۱ ٪ |
| ۶ | الفلاح بانک | ۱۷۶.12 | ۵.۹۷ ٪ |
| ۷ | افغان یونایټد بانک | ۲۳۱ .۱۰ | ۵.۰۲ ٪ |
| ۸ | استندرد چارترډ بانک | ۳۴۱ .۹ | ۴.۵۸ ٪ |
| ۹ | فرست مایکروفاینانس بانک | ۱۰۲.7 | ۳.۴۸ ٪ |
| ۱۰ | میوند بانک | ۰۴۱ .۷ | ۳.۴۸ ٪ |
| ۱۱ | حبیب بانک لمیټد | ۵۴۵ .۴ | ۲.۲۳ ٪ |
| ۱۲ | باختر بانک | ۳۸۶.4 | ۲.۰۳ ٪ |
| ۱۳ | غضنفر بانک | ۱۴۷.4 | ۲.۰۳ ٪ |
| ۱۴ | نشنل بانک آف پاکستان | ۱۵۸.3 | ۱.۵۵ ٪ |
| ۱۵ | آرین بانک | ۹۳۰.1 | ۰.۹۵ ٪ |
| ۱۶ | پنجاب نشنل بانک | ۲۰۴.1 | ۰.۵۹ ٪ |
| ۱۷ | برک بانک | ۵۷۷ | ۰.۲۸ ٪ |
| | ټولیزه شتمنی | ۸۳۶،203 | ۰ ٪۱۰ |

## د بانکي نظام ټولیزه پورونه

د بانکي نظام له ټولیزه شتمنیو څخه، د بانکونو ناخالص پورونه ۸۰.۲۴ ملیارده افغانۍ (۱.۷۷ملیارده دالرو) ته زیات شوي چې د تیر کال په پرتله ۲۰.۶۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي؛ د ۱۳۸۸ کال د کب په میاشت کې د بانکي سیستم ټولیزه خالص پورونه ۶۶.۴۹ ملیارده افغانۍ (۱.۴۵ ملیارده ډالرو) ته رسیده( چې د ټولیزه شتمنیو ۳۶.۷۳ سلنه یې جوړوله او د بانکي سیستم پورونه اوس مهال د ټولیزه شتمنیو ۳۹.۳۷ سلنه جوړوي. د دې پورونو له جملې څخه په بانکي نظام کې په افغانیو د پورونو کچه ۲۱.۷۶ ملیارده افغانۍ (۴۷۹ ملیونه ډالرو) ته رسیږي او د بانکي نظام د ټولیزه پورونو په سلو کې ۲۷.۱۲ یا د ټولیزه شمنیو ۱۰.۶۸ سلنه ښکاره کوي. چې د ۱۳۸۸ کال د کب د میاشتې په پرتله په سلو کې ۱۱.۲۱ زیاتوالی ښکاره کوي. د بانکي نظام ډالري پورونو ۵۸.۲۴ ملیارده افغانۍ (۱.۲۹ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د ټولیزه پورونو په سلو کې ۷۲.۸۶ او د ټولیزه شتمنیو په سلو کې ۲۸.۶۸ جوړوي چې د ۱۳۸۸ کال د کب د میاشتې په پرتله ۲.۵۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. په هیواد کې د پور ورکونې له مخې، خصوصي بانکونه ۸۷.۳۵ سلنې ونډې سره د ټولیزه پورونو په لومړي قدم کې، دولتي بانکونه ۸.۵۴ سلنې ونډې سره په دویم قدم او د بهرنیو بانکونو نماینده‌ګۍ ۴.۱۱ سلنې ونډې سره په دریم قدم کې راځي. په ورته وخت کې د بانکي سیستم پورونه د لا وضاحت لپاره د ټولیزه پورونو کیفیت د صنف بندی له جزئیاتو سره په لاندې ډول وړاندې کیږي:

د ۱۳۸۹ کال د کب د میاشت د شمېرې له مخې، صعب الحصول پورونه(هغه پورونه چې له ۹۱ ورځو موعده څخه اوختبتي او ناسنجشي پورونه) ۳۸.۸۳ ملیارده افغانی ( ۸۵۴.۴۱ ملیون ډالرو) ته رسیږي چې د تولیزه ناخالصو پورونو په سلو کې ۴۸.۴۰ جوړوي او د ۱۳۸۸ کال د کب د میاشتې د ۴۲.۱۴ ملیارده افغانی په پرتله ۳۸.۵۰ ملیارده افغانی زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۸۹ کال د لیندۍ په میاشت کې تولیز صعب الحصول پورونه ۴۲.۱۴ ملیارده افغانی ته رسیږي چې په اوسني ربع کې ۳.۳۱ ملیارده افغانی کموالی ښکاره کوي.

معکوس ډله بندي شوي پورونه (هغه پورونه چې تحت المعیار، مشکوک او خساره کټګوریو کې راځي) ۳.۰۷ ملیارده افغانی (۶۷.۵۹ ملیون ډالرو) ته زیات شوي چې د تولیزه ناخالصه پورونو ۳.۸۳ سلنه جوړوي او د ۱۳۸۸ کال د کب د میاشتې په پرتله ۲.۸۹ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، په تېر کال کې معکوس صنف بندي شوي پورونه ۶۲۷ ملیونه افغانی ته رسیده.

همدا ډول په نظر وړ کټګورۍ کې صنف بندي شوي پورونه چې د صنف بندي شویو پورونو په منځ کې تر ټولو لوړه سلنه جوړوي او د تولیزه ناخالصه پورونو له ۲.۷۱ سلنې سره برابره وه او د تېر کال ۵.۸۳ سلنې څخه په دې دوره کې ۳.۱۲ سلنې ته راټیټ شوي دی. تر نظر لاندې کټګورۍ باید له نږدې څخه د څېړنې او څارنې لاندې ونیول شي، ځکه چې ډله بندي شوي کټګوریز پورونه، په راتلونکې کې د معکوس صنف بندي شوي( تحت المعیار، مشکوک او خساره پورونو) د احتمالي زیاتیدنې لامل کیدای شي.

په خساره کټګوریو کې ډله بندي شوي پورونه ۳۶.۸۸ ملیارده افغانی (۸۱۱ ملیون ډالرو) ته زیات شوي چې د مخکې ورته دورې په پرتله ۳۶.۸۶ ملیارده افغانی زیاتوالی ښکاره کوي چې په دې زیاتوالي کې یو بانک ډېره ونډه لري.

د ۱۳۸۹ کال د کب د میاشتې د شمېرې پر اساس، کوچني پورونه او متوسط مؤسسو ته پورونه ۸.۵۹ ملیارده افغانی ته رسیږي. چې له هغې ډلې ۶.۷۳ ملیارده افغانی متوسط پورونه(چې د تولیزه پورونو ۸.۳۸ سلنې سره برابر) او ۱.۸۶ ملیارده افغانی کوچني پورونه( چې د تولیزه پورونو ۲.۳۲ سلنې سره برابر) د نهو بانکونو لخوا ورکړل شوي دي، متوسط پورونه د مخکنۍ ربع په پرتله ۱۳.۴۹ ملیارده افغانی کموالی ښکاره کوي، په دې کموالي کې یو بانک ستره ونډه درلوده، چې په مخکنۍ ربع کې د زیاتوالي لامل شوی ؤ. د لا زیات وضاحت لپاره د ناخالصه

| په ۱۳۸۹ کال کې د ناخالصه پورونو جزئیات (په ملیون افغانی) | |
|---|---|
| دولتي بانکونه | ۸۵۶،6 |
| خصوصي بانکونه | ۰۹۱،70 |
| د بهرنیو بانکونو نمایندګی | ۲۹۵،3 |
| مجموعه | ۲۴۲،80 |

د ناخالصو پورونو په فیصدی کې د غیر حصول پورونو کچه



پورونو جزئیات او د صعب الحصول پورونو نسبت ناخالصه پورونو ته په لاندې ډول وړاندې کیږي:

د ۱۳۸۹ کال د کب د میاشتې د شمېرې پر بنسټ، د ولایتونو او مختلفو سکتورونو د تولیزه پورونو وېش په لاندې ډول اجراء کیږي: د بانکي سیستم پورونه مختلفو جغرافیائي، سکتوري او مالي موسسو ته وېشل شوي نه دي، خو تمه کیږي چې د وخت په تیرېدو سره د پورونو وېش متنوع شي.

| د ۱۳۸۹ کال په کب کې د سکتوري پورونو جوړښت(وېش) | د پورونو د مجموعه فیصدي |
|---|---|
| رهني او تعمیراتي پورونه | 25.98% |
| نور سوداګریز پورونه | |
| معدن | 0.02% |
| تولیدات | 2.72% |
| سوداګري | 34.16% |
| مخابرات | 0.23% |
| خدمات | 6.72% |
| اسانتیاوي | 0.03% |
| نور سوداګریز پورونه | 8.42% |
| کرنیز پورونه | 0.75% |
| لګښتي پورونه | 1.01% |
| د اشخاصو لپاره د هستوګنې رهني پورونه | 8.95% |
| نور پورونه له پورته یاد شوي مواردو پرته | 10.00% |
| مجموعه | 100% |

| د ۱۳۸۹ کال سلواغه ( ۲۰۱۱، فبروري) په هیواد کې د مسفاء د شریکانو عمومي جزئیات | |
|---|---|
| د کوچنیو پورونو مالي موسسې | 14 |
| ولایات | 26 |
| ناحیه | 138 |
| مشتریان | ۵۶۱،427 |
| مقروضین(پوروړي) | ۳۷۲،282 |
| د وېشل شویو پورونو وېش | ۶۳۷،۷۱۸،1 |
| د وېشل شویو پورونو مبلغ (په ملیون ډالر) | 925 |
| د ناحصول شویو پورونو شمېر | ۳۷۲،282 |
| د ناحصول شویو ناخالصه پورونو مجموعه (په ملیون ډالر) | 125 |
| د مشتریانو پاتې سپما (په ملیون ډالر) | 23 |
| د ښځینه مشتریانو سلنه | 60% |
| پوروړې ښځې | ۵۲۸،193 |
| په کلیو او بانډو کې پورونه (په ملیون ډالر) | 29 |
| په ښارونو کې پورونه (په ملیون ډالر) | 96 |
| منبع: www.misfa.org.af | |

## په بانکي نظام کې امانات

امانات د بانکي سیستم د بدیهیاتو تر ټولو لویه برخه جوړوي او په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې ۱۵۶.۵۴ ملیارده افغانی (۳.۴۴ ملیارده دالرو) ته رسیږي، چې د بانکي سیستم له ټولیز بدیهیاتو ۷۰.۷۶ سلنې سره برابره وه او دا شمېره د تېر کال په پرتله ۴.۴۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د ۱۳۸۸ کال د کب په میاشت کې د بانکي سیستم ټولیزه امانات ۱۴۹.۸۷ ملیارده افغانی (۳.۲۱ ملیارده ډالرو) ته رسیده، چې له هغې جملې څخه یې د بانکي نظام په افغانیو امانات ۵۴.۰۷ ملیارده افغانی (۱.۱۹ ملیارده ډالرو) ته زیات شوي دي چې ۱۱.۲۱ سلنې زیاتوالي سره د ټولیزه اماناتو په سلو کې ۳۴.۵۴ جوړوي. د بانکي نظام ډالري امانات ۹۷.۶۶ ملیارده افغانی (۲.۱۵ ملیارده ډالرو) ته رسیږي او له ۲.۵۰ سلنه زیاتوالي سره د بانکي نظام د ټولیزه اماناتو ۶۲.۳۸ سلنه جوړوي. خصوصي بانکونه د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې تر ټولو زیاته(۶۶.۹۸ سلنه) ونډه لري، ورپسې د بهرنیو بانکونو نمایندګی د ۱۹.۱۰ سلنې ونډې سره په دویم او دولتي بانکونه د بانکي نظام په ټولیزه اماناتو کې د ۱۳.۹۲ سلنې ونډې سره په دریم قدم کې راځي. د بانکي نظام ټولیزه امانات د تېرې میاشتې په پرتله په سلو کې ۱.۹۱ زیاتوالی موندلی دی.




| د ۱۳۸۹ کال په کب کې د اماناتو ډولونه (په ملیون افغانی) | |
|---|---|
| جاري | ۵۷۹،107 |
| میعادي | ۶۷۳،9 |
| سپما | ۲۸۴،39 |
| مجموعه | ۵۳۷،156 |

## د بانکي نظام پانګه او ګټه

په افغانستان کې له یو بانک څخه پرته، نور ټول مالي موسسات ( بانکي سکتور) کافي پانګه لري چې ۱۷.۳۱ ملیارده افغانۍ(۳۸۱ ملیونه ډالرو) ته رسیږي چې دا شمېره د ټولو بانکونو په شمول په مخکې ورته دوره کې ۲۲،۵۰۴ ملیارده افغانۍ(۴۷۹ ملیونه دالرو) ته رسیده. خو په بانکي سکتور کې د یو بانک شاملولو د بانکي سیستم پر پانګې ډېرې منفي اغیزې درلودلې چې پانګه یې د ګراف منفي ساحې ته راټیته کړې وه، یعنې منفي (– ۳۸۲ ملیونه ډالــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــره) .

دا مهال د ټولو بانکونو مقرراتي پانګه د افغانستان بانک د حد اقل ټاکلې پانګې ( د شتمنیو په سلو کې ۱۲ ) څخه زیاته ده، پرته له دریو بانکونو څخه چې یو یې د مقرراتي پانګې له امله تر ټولو ټیټه سلنه ښکاره کوي او د دوو نورو بانکونو مقرراتي پانګه یې د افغانستان بانک د ټاکل شوي حد اقل څخه یوه اندازه لوړه ده. بانکي نظام د مالي پانګې د پیاوړتیا او ثبات لپاره، د افغانستان بانک د مالي پانګې ټاکل شوی حد اقل ۱ ملیارده افغانۍ ته زیات کړ او ټولو بانکونو ته یې خبر ورکړ چې تر دوو راتلونکو کلونو پورې خپلې مالي پانګې د ټاکل شوي حد سره سمې عیارې کړي همدا ډول په بانکي سیستم کې یو بانک د مالي پانګې له ټاکل شوي حد اقل څخه ټیټ قرار لري. لاندې ګراف په څو کلونو کې د پانګې د زیاتوالي بهیر وړاندې کوي:



## د ۱۳۸۹ کال ګټه او فایده

په ۱۳۸۹ کال کې د بانکي سیستم ټولیزه ګټه پرته له یو بانک څخه ۳۳۵ ملیون افغانی (۷.۳۷ ملیونه ډالرو) وه چې د ۱۳۸۸ کال په پرتله ۷۳.۳۱ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. د بانکي سیستم په پانګه کې د پورته بدلونونو لامل په عمومي توګه د اعتباري تامیناتو، عملیاتي لګښتونو او د فوق العاده زیان زیاتوالي دی. سربېره پردې د ټکتاني خالصې ګټې هم چې د عوایدو لومړنی منبع ده، زیاتوالی موندلی دی خو دا زیاتوالی د یاد شویو بدلونونو په پرتله ناچیزه بریښي.

د بانکي سیستم پر شتمنی د عاید(ROA ) کچه ۰.۲۴ سلنه ده چې د ۱۳۸۸ کال په ورته وخت کې له (۱.۲۳ سلنې) څخه ۰.۹۹ سلنې ته راټيټه شوی ده چې لامل یې په عمومي توګه د ګټې ټیټوالی دی. د بانکي سیستم پر شتمنی د عاید کچه د تیر کال په ورته دوره کې له ۸ سلنې څخه ۶ سلنې ته ټیټوالی ښکاره کوي.

په بانکي نظام کې د نوموړي بانک په شاملیدو سره د بانکي سیستم ټولیزه ګټه له یو ژور زیان سره مخ شوی چې ۳۹.۴۶ ملیارده افغانیو ته رسیږي، چې له امله یې د بانکي سیستم پر شتمنۍ د عاید کچه په سلو کې منفي ۲۰.۰۸ ته بدلون موندلی. د دې زیان لامل د پورته ذکر شوي مالي موسسې لخوا د ۳۹.۱۲ ملیارد افغانۍ پور د خسارې جبران دی. په ټولیزه توګه د ۱۳۸۹ کال تر پای پورې شپږو بانکونو د ۴۰.۸۳ ملیارده افغانیو په اندازه زیان کړی دی چې په مخکې ورته دوره کې دا زیان ۳۸۴ ملیونه افغانی ته رسیده، چې اووه بانکونه په زیان کې ؤ.

د اصلي عاید پر بنسټ، څلور بانکونه په خساره کې قرار لري چې اصلي لامل یې د عملیاتي لګښتونو لوړوالی دی او دا د دې ډول بانکونو لپاره یو ډول دایمي وضعیت دی.

### د څو کلونو په اوږدو کې د ګروپ بندۍ له مخې د بانکي سیستم ګټه او تاوان وړاندې کوي:



## سیالیت (نقدینه ګي)

په ټولیزه توګه د ټولو بانکونو د سیالیت نسبتونه له ټاکلي شوي حد ( ۱۵ سلنه پراخه سیالیت او ۲۰ سلنه ګړندی سیالیت) لوړ دی. د ۱۳۸۹ کال د کب د میاشتي د شمېرو پر بنسټ، په سترو اماناتو ( هغه امانات چې له ۵ ملیونو څخه زیات ؤ) ډېر تمرکز، بانکي نظام ته یو لړ ستونزې او اندیښنې پیدا کړي دي. دا ستر امانات د ټولیزه اماناتو شاوخوا ۵۲.۹۳۶ سلنه جوړوي او له ۳،۵۵۹ حسابونو څخه متشکله ده، سر بېره پردې د سترو اماناتو اوسط حد ۲۷ ملیونه افغانی دی چې د تېرې ربع په پرتله ټیټوالی ښکاره کوي.

## د بهرنیو اسعارو پرانیستي وضعیت

ټول بانکي سیستم په مجموعي او انفرادي توګه د اسعارو د عمومي پرانیستي وضعیت لپاره (±۴۰ سلنه) او د اسعارو انفرادي پرانیستي وضعیت لپاره (±۲۰ سلنه) د ټاکل شوي حد سره په مطابقت کې قرار لري، پرته له څلورو بانکونو چې د (ډالرو) د عمومي او انفرادي پرانیستي وضعیت لپاره یې له ټاکل شوي حد څخه سرغړونه کړې ده.

همدا ډول هغه نور اشخاص چې د بانکونو له فعالیتونو سره مستقیمې اړیکي لري د ۱۳۸۹ کال له کب څخه په لاندې ډول وړاندې کیږي:

| ځانګړتیاوې | شمېر |
|---|---|
| داخلي کارکوونکي | ۱۸۵،۹ |
| بهرني کارکوونکي | ۱۳۳ |
| مقروضین(پوروړي) | ۷۵۰،۵۹ |
| امانات ایښودونکي | ۷۱۱،۹۵۰،۱ |
| نور مشتریان | ۹۱۴ |
| | |




# د تادیاتو سیستم

نړیوال تادیات

د نمایندګیو تر منځ تادیات

بین البانکي تادیات

د کلیرینګ هاوس برخه

د تسویې د سیستم جوړول

# د تادیاتو سیستم

د افغانستان بانک له مهمو دندو څخه یو هم د تادیاتو سیستم دی، چې د رسمیت پیژندنې لپاره د نویو تادیاتي پالیسیو پلي کول او له عصري تادیاتي سیستمونو څخه کار اخیستل د ارزښت له پلوه د افغانستان بانک او د ټول افغانستان پرمختګ ګڼل کیږي.

## د ۱۳۸۹ کال کاري برنامې په دوو برخو کې ځای پر ځای شوي دي:

۱- ورځنې عملیات چې بین البانکي، د نمایندګیو ترمنځ، نړیوال او د چک کلیرینګ انتقالات په بر کې نیسي

۲- پرمختیایي برنامه چې د کارکوونکو د پوهې د کچې د لوړولو، د تادیاتي سیستم د پیاوړتیا او د ورځنیو چارو د ښه والي په موخه پلي کیږي.

## نړیوال تادیات(سویفټ څانګه)

په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې ۲۱۳۶ وارده معاملې د (۴,۱۵۹,۳۵۵,۸۰۳.۹۴) ملیارده امریکایي ډالرو په ارزښت او ۱۶۴۱ صادره معاملې د (۴,۵۴۷,۹۰۹,۷۵۷.۷۲) ملیارده امریکایي ډالرو په ارزښت د سویفټ د نړیوالې شبکې لخوا اجراء شوي دي. د ۱۳۸۹ کال د وارده معاملو په پرتله صادره معاملې (۲۱.۳۷) سلنه زیاتوالی ښکاره کوي او همدا ډول په ۱۳۸۹ کال کې د سویفټ د نړیوالې شبکې لخوا (۹,۳۰۰) پیغامونه طی مراحل او ترسره شوي دي.

لاندې چارټ په ربعوار ډول په ۱۳۸۹ کال کې د بین البانکي سیستم لخوا د اجراء شویو معاملو کچه ښکاره کوي



## د (AFTS) سیستم په کاروني سره د نمایندګیو تر منځ معاملات

د (AFTS) سیستم لخوا د ۱۳۸۹/۱/۱ نیټې څخه تر ۱۳۸۹/۱۲/۲۹ نیټې پورې په ټولیزه توګه (۶۰۰۸) افغانی صادره معاملې د (۵۸,۱۷۷,۹۱۵,۹۴۰.۶۷) ملیارده افغانی په ارزښت، (۱۰۹) ډالري معاملې د (۴۴,۱۹۰,۰۹۸.۶۷) ملیونو ډالرو په ارزښت چې په ټولیزه توګه (۶۶۸۶) افغانی وارده معاملې د (۴۰,۹۲۳,۴۷۹,۷۰۱.۰۰) ملیارده افغانی او (۲۹۰) ډالري معاملې د (۱۹۴,۳۲۳,۴۲۹.۷۷) ملیونو ډالرو په ارزښت چې په ټولیزه توګه (۱۳۰۷۲) معاملې کېږي د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د (AFTS) سیستم له لارې ترسره شوي دي.

لاندې چارت په ۱۳۸۹ کال کې په ربعوار ډول د (AFTS) سیستم ډالري وارده او صادره معاملې ښکاره کوي




## د ( AFTS) سیستم په کاروني سره د نمایندګیو تر منځ معاملات

په ۱۳۸۹ هجري لمریز کال کې د نمایندګیو تر منځ (۳۲۷۲) معاملې د (۱۵,۶۲۸,۲۷۴,۰۰۳.۰۰) ملیارده افغانی په ارزښت او (۵۴) معاملې د (۱۵,۵۶۴,۰۵۰.۰۰) ملیونو ډالرو په ارزښت د (AFTS) سیستم له لارې اجراء شوي دي.

د (AFTS) په معاملو کې د کموالي مهم لاملونه، سوداګریزو بانکونو ته د ځینو دولتي او خصوصي تصدیو د حسابونو سپارل او همدا ډول د سوداګریزو بانکونو د نمایندګیو جوړول دي.

لاندې کوې چارت په ۱۳۸۹ کال کې په ربعوار ډول د **AFTS** سیستم په افغانی وارده او صادره معاملې ښکاره کوې




**(3)- د افغانستان د تصفیې او تسویې سیستم ( ACSS)**

**(AFGHANISTAN CLEARING AND SETTLEMENT SYSTEM)**

د ( ACSS) سیستم په کاروني سره د سوداګریزو بانکونو تر منځ انتقالي معاملې تر سره کیږي.

**د ( ACSS) سیستم په کاروني سره د بانکونو تر منځ معاملې**

په ۱۳۸۹ کال کې (۴۵۷۳۲) افغانی معاملې د (۲۵۱,۷۴۷,۴۷۴,۴۸۸.۷۷) ملیارده افغانی په ارزښت او (۳۶۹۸۲) ډالرې معاملې د (۴,۶۷۳,۳۱۲,۰۳۳.۳۱) ملیارده ډالرو په ارزښت چې په ټولیزه توګه (۸۲۷۱۴) معاملې کیږي له همدې لارې ترسره شوې دي.

د ۱۳۸۵ کال څخه تر ۱۳۸۹ کال پورې د **(ACSS)** سیستم افغانی او ډالرې معاملې




AFN ACSS report from 1385 to 1389
Millions
90,000.00
80,000.00
70,000.00
60,000.00
50,000.00
40,000.00
30,000.00
20,000.00
10,000.00
0.00
1st Q85
2nd Q85
3rd Q85
4th Q85
1st Q86
2nd Q86
3rd Q86
4th Q86
1st Q87
2nd Q87
3rd Q87
4th Q87
1st Q88
2nd Q88
3rd Q88
4th Q88
1st Q89
2nd Q89
3rd Q89
4th Q89
AFN


USD ACSS Report from 1385 to 1389
Millions
1,600.00
1,400.00
1,200.00
1,000.00
800.00
600.00
400.00
200.00
-
1st Q85
2nd Q85
3rd Q85
4th Q85
1st Q86
2nd Q86
3rd Q86
4th Q86
1st Q87
2nd Q87
3rd Q87
4th Q87
1st Q88
2nd Q88
3rd Q88
4th Q88
1st Q89
2nd Q89
3rd Q89
4rd Q89
USD

## (۴) د تیلګرام خانګه (TELEGRAM)

د ولایتونو هغه نمایندګی چې لا تر اوسه د (AFTS) سیستم سره ترړل شوي نه دي، له شفر او تیلګرام څخه ګټه پورته کوي او یا ځینې نمایندګی چې د انټرنټ یا کمپیوټر د دستګاه د خرابی له امله نشي کولای خپل انتقالات د (AFTS) سیستم له لارې ترسره کړي، د سیستم تر فعالیدو پورې کولای شي د تیلګرام له وسیلې څخه ګټه پورته کړي.

په ۱۳۸۹ کال کې (۲۲) وارده معاملې د (۱۷۹,۴۵۰,۹۴۲ .۰۰) ملیون افغانی په ارزښت، (۱) د یورو معامله د (۳۰۰.۰۰.۰۰۰) یورو په ارزښت، (۸۰) صادره معاملې د (۹۹۵,۱۳۲,۹۵۴.۰) ملیون افغانی په ارزښت او (۲) ډالري معاملې د (۱,۲۰۰,۰۰۰ .۰۰) ډالرو په ارزښت د تیلګرام د څانګې له لارې ترسره شوي دي.




## د کلیرینګ هاوس خانګه

د کلیرینګ هاوس تادیاتي معاونیت د پرانیستلو سره سم په کار پیل کړی دی. د ۱۳۸۹/۴/۳ (۲۵ / ۸ / ۲۰۱۰) له نیټې څخه (۱۹۴۳) چکونه د (۴۰۰ ,۳۸۵,۷۷۸ .۹۲) ملیون افغانی په ارزښت، (۳۷۳۳) چکونه د (۲۸ ,۶۴۷,۴۰۳.۵۹) ملیونه ډالرو په ارزښت او (۱۰) د یورو معاملې د (۷۵,۵۱۳.۱۲) یورو په ارزښت د کلیرینګ هاوس د څانګې (Clearing House

لاندې چارت په ۱۳۸۹ کال کې د کليرينګ هاوس د ځانګې له لارې افغانی، ډالري او د يورو چکونه ښکاره کوي




(Establishment لـــه لاړي تـــرســـره شـــوي دي.

(۲)- پرمختيايي برنامه چې د کارکوونکو د ظرفيت د لوړولو، د تادياتي سيستم د پياوړتيا او د ورځنيو چارو د ښه والي لپاره په لار اچول شوی، په ۱۳۸۹ هجري لمريز کال کې يې لاندې کاروونه ترسره کړي دي:

د کليرنګ هاوس د ځانګې اتوماتول ( Clearing House Establishment)

د تادياتو د ملي کميټې پياوړي کول( National Payments Council Establishment )

د ACSSسيستم له CBS سيستم سره انترفيس کول( Interface of ACSS system with CBS System)

د سويفټ د سرور بيا انستالول ( Reinstallation of SWIFT server.)

د سويفټ SSL سرټيفيکيټ بيا نوي کول( Renewal of the SWIFT SSL Certificate)

له دسک څخه (اچ اس ام ) ته د سويفټ د سرټيفيکيټونو انتقال (Moving PKI Certificate from disk to HSM )

له نارتل څخه (اس اس ال ) ته د VPN تبديلول( Change of Nortel Software VPN to ENSB SSL VPN)

د سويفټ په لايسنس کې د اپليکيشن ( آر، ام، ای، پلاس ) زياتول ( Adding RMA Plus Functionality to SWIFT License)

د سويفټ نړيوالې شبکې سره د اړيکې نيولو لپاره د VPN- JHNPURE هاردوير پيرودل او نصبول.

هغه نوښتونه چې د سويفټ د نړيوالې شبکې لخوا په سرورونو کې رامنځته شوي او يا تصميم لري ادا دي: لومړی د VERSION 6.0 په VERSION 7.0 بدلول. چې د هغوی له هدايت سره سم نوی سرور له پرمختللو ځانګړتياوو سره د سويفټ لپاره اخيستل شوی دی چې ډېر ژر به ياد شوی VERSION انستال شي.

## (5) د تسويې سيستم (Clearing House)

کليرينګ هاوس هغه ځای ته وايي چې د دې نـهـاد ټـول غـړي بانکونه په کې په يو ټاکلي وخت او زمان سره راټوليږي او خـپـل تادياتي وسايل تبادله کوي، په نړی کې د کـلـيـريـنـګ هـاوس مختلف ډولونه وجود لري چې خپلو غړو بانکونو لپاره تسـويـوي خدمات چمتو کوي. په ځينو هېوادونو کې معمولاً دا بـنـسـټ د افغانستان بانک لخوا جوړ او اداره کېږي خو پـه ځـيـنـو نـورو هېوادونو کې دا دنده د سوداګريزو بانکـونـو او يـا د تـاديـاتـي سيستمونو د چمتو کوونکو موسسو لخوا ترسره کېږي. د افغانستان بانک هم په هېواد کې د سوداګريزو بانکونو يو سـرور درلـوده، تصميم ونيول شو تر څو د کليرينګ هاوس يـا د تسـويـې او د چکونو د تصفيې سيستم د سوداګريزو بانکونو لپاره جوړ کړي. له نيکمرغه دافغانستان بانک وکولای شول چې په کم وخـت کـې نوموړي دفتر پرانيزي. د دې نهاد غړيتوب د هېـواد ټـول مـجـوز استوګن(مقيم) بانکونو لپاره وړيا او اجباري ده. اوس مـهـال يـاد شوی سيستم په منول يا نا برېښنايي توګه فعاليت کوي، په پام کې ده چې ياد شوی سيستم په دويم پړاو کې برېښنايي يـا اتـومـات شي. دا سيستم درې ډوله اسعار يعنې افغانی، امريـکـايـي ډالـر او يورو قبلوي. په ياد شوي سيستم کې چکونه، بانـکـي حـوالـې او کش آردر ترسره کېږي . د ياد شوي سيستم کاري پروسيجر لـه نورو انتقالي سيستمونو سره په بشپړه توګه توپـيـر لـري، پـه دې سيستم کې معاملات په ټوليزه يا خالص ډول په يو ټاکلي وخـت کې تصفيه کېږي په داسې حال کې چې په نورو سيستمـونـو کـې معاملات په نا خالصه يا بيلا بيل ډول او د حصول په وخـت کـې تصفيه کېږي. په تادياتي سيستمونو کې په عمومي توګه معـامـلات د فرمايش ورکوونکي په حساب کې د کافي شتمنی د موجوديت په صورت کې له د افغانستان بانک سره طی مـراحـل او اجـراء کېږي په داسې حال کې چې په دې سيستم کې د سـوداګـريـزو بانکونو معاملې د دوی د فرمايش د حـصـول پـه وخـت کـې او وروسته له تسويې د بانکونو په حسابونو کې د کافي شـتـمـنـی لـه موجوديته پرته په د افغانستان بانک کې طـی مـراحـل او اجـراء کېږي. دا ډول معاملات په هغه صورت کې د منلو وړ او اجـراء کېږي چې مطلوب سوداګريز بانک له مرکزي بانک سره تضمين ولري، دا تضمين دولتي بيه لرونکو پاڼې، د افغانستان بـانـک بـيـه لرونکې پاڼې يا کېپټل نوټ په بر کې نيسي چې د افغانستان بانک سره موجود وي. د نقدينه ګۍ د ستونزې د حل لپاره دا پـور يـا اسانتيا د درې ورځو لپاره اعتبار لري او د افغانستان بانـک د دې سهولت په بدل کې د ورکړل شوي پور ۱۵ سلنه کمېشن تر لاسه کوي. د کليرينګ هاوس د معاملاتو د تصفيې طريقه په افغانستان بانک کې هم په همدې توګه ترسره کېږي.

### ۱- له محاسبوي سيستم سره د بين البانکي تادياتي سيستم تړل

بين البانکي تادياتي سيستم ( ACSS)په بيلا بيل ډول فـعـالـيـت کوي او هغه معاملات چې د نوموړي سيستـم لـه لارې تـرسـره کېږي بايد د بانکي عملياتو لخوا په څو پړاونو کې نـهـايـي شـي، ترڅو له يوې خوا زيات وخت په بر کې ونه نيسي او له بلې خـوا يې معلاملات ډېر ونه ځنډيږي. په دې وروستيو کـې يـاد شـوی سيستم په نوي او عصري سيستم بدل شوی دی چې ټولې معاملې د تادياتو د څانګې لخوا پرته له طی مراحله تر لاسه او نـهـايـي کېږي، د معاملاتو نهايي کول په دې معـنـی چـې د فـرمـايـش ورکوونکي بانک له حسابه څخه د معاملو مبلغ دبت کېږي او د اخيستونکي بانک په حساب کې پـه اتـومـات ډول شـامـلـيـږي. نوموړي سيستم، د معاملاتو د لا ښـه مصـؤنـيـت لـپـاره زيـاتـې اسانتياوې برابرې کړې دي، چې د فرمايش ورکوونکي بانک پـه موجوده حساب کې د بيلانس تطبيق، د حساب شمېره، د معاملې د پيسو نوعيت، د اخيستونکي بـانـک شـمـېـره او داسې نـور موضوعات په بر کې نيسي چې د دې سيستم له خوا کـنـټـرول او څېړل کېږي. دم ګړۍ ياد شوی سيستم فعال دی او د سوداګريـزو بانکونو ټول معاملات چې د دوی ترمنځ ترسره کېږي په اتـومـات ډول د CBS په سيستم کې دبيت او کريدت کېږي.

### ۲- د افغانستان د تادياتو د ملي ټولنې جوړول

د افغانستان بانک يو بل ګام چې د ملي تادياتو په برخه کې يې اوچت کړی دی، د افغانستان د تادياتو د ملي ټولنې جـوړول دي چې د افغانستان د تادياتي سيستمونو د لا ښه او منسجم کولو لپاره

کار کوي. دا بنسټ د تادياتي سياستونو د طرح او د هغه د عملي کولو لپاره تر ټولو غوره مرجع ده او همدارنګه د دريو مهمو ارګانونو ترمنځ چې د افغانستان د ورکړې د نظام پر بنسټيز جوړښت کې مهمه ونډه لري، همغږي رامنځته کوي. ياده شوې ټولنه اته غړي لري چې د افغانستان بانک د لومړي مرستيال تر رياست لاندې فعاليت کوي. د ياد شوي نهاد غړي د ماليې وزارت د خزائينو رئيس، دري تنه په هېواد کې د سوداګريزو بانکونو استازي او څلور تنه د افغانستان بانک عمومي آمرين په بر کې نيسي. د دې ټولنې کاري راپور لومړی د افغانستان بانک عامل پلاوي او بيا عالي شورا ته وړاندې کيږي. ياده شوې ټولنه دنده لري چې د افغانستان بانک سره د تادياتي سيستمونو د عصري کولو په برخه کې مرسته وکړي. اوږد مهاله پلانونه د افغانستان د تادياتو لپاره جوړ او په پلي کولو کې يې د افغانستان بانک سره همکاري وکړي. نوموړې ټولنې ته په کال کې څلور ځلي د غونډې جوړولو تشکيل ورکړ شوی دی تر څو خپل وړانديزونه او سفارشونه وړاندې کړي. څرنګه چې څرګنده ده په هېواد کې سوداګريز بانکونه هر يو په خپل وار له يوې نوې ټکنالوژۍ سره د بانکي سکتور صحنې ته داخل شوي ترڅو له دې لارې زمونږه هېوادوالو ته په مختلفو ساحو کې تادياتي خدمات وړاندې کړي. دا خدمات د اوسني عصر تر ټولو عصري او مدرنې تکنالوژۍ لکه، ديبت کارت، کريدت کارت، د صرافي اتومات ماشينونه، د انترنټ او موبايل له لارې د بانکدارۍ څخه عبارت دي چې په بيلا بيل ډول او د کاري اړيکو له درلودلو پرته له يو بل سره فعاليت کوي، اړينه بريښي ترڅو داسې يو ميکانيزم جوړ شي چې دا تادياتي سيستمونه له يو بل سره وتړي او تادياتي سيستمونو ته د لاسرسی ساحه پراخه کړي.

### ۳- د بين البانکي تادياتو په سيستم کې د ماليې وزارت غړيتوب

ماليې وزارت يوازينی مرجع ده چې د ټولو دولتي ارګانونو معاشات اجراء کوي، د دې اصل له مخې، د افغانستان بانک له ډېرې مودې راهيسې د ماليې وزارت د خزائينو له رياست سره په دې برنامې کار کوي ترڅو د معاشونو د ورکړې اوسنی سيستم چې د ماليې وزارت په فرمايش د افغانستان بانک له لارې د سوداګريزو بانکونو تر عنوان لاندې د چک پواسطه اجراء کيږي، بدلون وموومي او ياد شوي معاملات د بين البانکي تادياتو په کاروني سره طی مراحل او اجراء شي. پدې صورت کې به ماليې وزارت د بين البانکي تادياتو د يو غړي په توګه وپيژندل شي ترڅو وکولای شي د دوی معاملات په بشپړه توګه په بريښنايي ډول د دوی د کار له ځايه څخه خپلو معامله لرونکو بانکونو ته وليږي. د افغانستان بانک د دوو ورځو لپاره، د ماليې وزارت د خزائينو او تادياتو د برخو کارکوونکو ته د دوی د رئيسانو په شمول د دې وزارت په مرکزي دفتر کې زده کړه ورکړې ده او په نږدې راتلونکې کې به دا اسانتياوې د ماليې وزارت لاس ته ورشي.

### ۴- د کليرينګ هاوس د سيستم اتوماتول

په پام کې ده چې تر ۱۳۹۰ کاله پورې د موجوده کليرينګ هاوس سيستم چې په منول ډول کار کوي، بريښنايي (اتومات) شي، تر څو له دې لارې نه يوازې چک، بلکې نور تادياتي وسايل لکه: د کريدت کارت معاملې، د ديبت کارت معاملې او مستقيم کريدت هم تسويه او تصفيه شي. يادې شوې برنامې لپاره ډېرې بودجې ته اړتيا ده خو د افغانستان بانک يې د تمويل کوونکي سرچينې د موندلو په لټه کې دی.

### ۵ – د موبايل، د صرافي اتومات، POS(Point Of Salepos) او ATM (Automated Teller Machine) ماشينونو په ذريعه د تادياتو د يوې ګډې شبکې نصبول

څرنګه چې ليدل کيږي په دې وروستيو کې تادياتي سيستمونه په افغانستان کې د پرمختګ پوړۍ شاته پريږدي او د هر کال په تيريدو سره په هېواد کې د ورکړې يو نوی سيستم د تادياتي وسايلو په کورنی کې زياتيږي. دا وسايل د صرافي د اتومات ماشينونو په شمول د ( POS ) ماشينونه، ديبت کارتونه، کريدت کارتونه، د موبايل له لارې تاديات، انترنټ او داسې نور رانغاړي چې د بانکي سکتور لخوا وړاندې کيږي. د هر يو نوي تادياتي وسايلو معرفي کول د ورکړې د نظام ستونزې زياتوي، نو څکه د افغانستان بانک د هېواد د ورکړې د سيستمونو څارنه او تنظيمونه

خپله دنده ګنې تر څو د ورکړې د نظام د انسجام او عصري کولو په موخه جدي او اغيزناکه اقدامات ترسره کړي. د افغانستان بانک په پام کې لري چې د پورته بريښنايي وسايلو د تادياتو ګڼ سيستم داسې جوړ کړي، چې يو له بله سره اړيکه ولري او د معاملو تبادله وکولای شي. يعنې د تادياتو له هرې وسيلې، له هر ځای او هر بانک څخه ګټه پورته کړای شي، چې دا کار پخپله د تادياتو سيستمونو ته د لاسرسی ساحه پراخوي، په پام کې ده چې د يادې شوې برنامې مقدماتي کار په ۱۳۹۰ کال کې پيل شي.

## ۶- د Real Time Gross Settlement (RTGS) سيستم

معرفي کول د بين البانکي معاملاتو د تصفيې لپاره په کار وړل کيږي چې اوس مهال ترې سوداګريز بانکونه ګټه پورته کوي، څو د کمو سهولتونو په لرلو سره د اوسني تادياتي نظام د اړيتاوو ته ځواب نشي ورکولای. د افغانستان بانک په پام کې لري ترڅو د RTGS سيستم چې زيات سهولتونه لري، وپيري او ګټې اخيستنې ته يې وسپاري.

دا سيستم يو ډول سافټوير دی چې مالي موسسو (بانکونو) ته د معاملو د تصفيې بريښنايي اسانتياوې په دوامداره توګه، د کاري وخت ترپايه پورې چمتو کوي. هغه انتقالي معاملې چې له دې لارې اجراء کيږي، اخيستونکی بانک د معاملې له مبلغ څخه په ورته وخت کې بيا ګټه اخيستلای شي.

د تادياتو معاونيت له خپل پنځه ډوله انتقالاتو څخه رضايت لري او تر اوسه پورې د دې برخو چارې د تائيد وړ دي چې دې سيستم د بانکداری د عصري کېدو تر څنګ، د سوداګريزو بانکونو د مشتريانو د پيسو د انتقال او په ځانګړې توګه د ماليې وزارت له لارې د دولتي کارکوونکو د معاشونو د ليږد په برخه کې ډېرې اسانتياوې رامنځته کړې دي.

د يادونې وړ ده چې د افغانستان بانک ښاري ځانګې د (AFTS) سيستم په برخه کې زده کړې کړي دي خو لا تر اوسه پورې له ( AFTS سيستم سره تړل شوي نه دي او خپل انتقالات د پخوا په شان اجراء کوي چې ډېر ژر به له (AFTS) سيستم سره وتړل شي. د تادياتو معاونيت د پولي معاملاتو د ليږد لپاره له دريو

الکترونيکي سيستمونو، تيلګرام او د تسويې سيستم( **Clearing House** ) چې پورته يې يادونه شوې، استفاده کوي.

د تادياتو معاونيت د موجوده سيستمونو د تخنيکي عوارضو په صورت کې له احتياطي پلان( **Back up** ) څخه ګټه اخلي

د ACSS په سيستم کې د تخنيکي عوارضو او نورو ستونزو د رامنځته کېدو په صورت کې بين البانکي معاملې، د تادياتي مسؤول لخوا د سيستم د تخنيکي عوارضو له تصديق څخه وروسته، د (SWIFT) سيستم او د سويفټ د خرابيدو په صورت کې د مکتوب يا چک له لارې د معاملو د انتقالولو د برخې لخوا ترسره کيږي.

د AFTS سيستم د خرابيدو په صورت کې له تيلګرام څخه استفاده کيږي په وارده شفري تيلګراماتو کې سر بېره د شفر له تصديق څخه، د سيستم له خرابيدو هم يادونه کيږي.

د سويفټ د خرابيدو په صورت کې له شفري فکس څخه ګټه پورته کيږي او له دې وارده شفري فکسونو سر بېره د سويفټ د سيستم له خرابيدو هم يادونه کيږي.

## موخې

i- دولت او د بانکونو ټولنې لپاره د اعتماد وړ او اغيزناکه خدماتو برابرول

ii- د مشتريانو لپاره د عالي خدماتو چمتو کول او ژر تر ژره يې په اړوند راپور ورکول

iii- د احتمالي غلطو ګټې اخيستنې د کمولو لپاره د ښه مصون چاپيريال برابرول

iv- د نړۍ له نورو بانکونو په خاصه توګه د سيمې د تادياتو له برخو سره د ښو تادياتي اړيکو ټينګول (تامينول)



# د بازار عملیات

د افغانستان بانک اسعاري زیرمې

د بهرنیو اسعارو لیلام

د بیه لرونکو پاڼو لیلام

لنډ مهاله اعتباري او د امانت ایښودنې اسانتیاوې

# د بازار عملیات

## د افغانستان بانک اسعاري زیرمي

د افغانستان بانک توانیدلی چې په ۱۳۸۹ کال کې د لازمو تدابیرو په نیولو سره په بها لرونکو پاڼو کې د سوداګریزو بانکونو د پانګې اچونې کچه شاوخوا ۱۳ ملیارده افغانیو ته زیاته کړي. چې د ۲۸ ورځني ټکتاڼي وروستی نرخ ۲.۴۳ سلنه او د ۱۸۲ ورځنی ۳.۴۳ سلنه محاسبه شوی دی. په بانکي سیستم کې د نقدینه ګۍ د موجودیت په پام کې نیولو سره، د تېر کال په اوږدو کې د ۲۸ ورځني بها لرونکو پاڼو د ټکتاڼي نرخ د ۱۳۸۹ کال په لومړیو کې له ۴ سلنې څخه زیات ؤ چې د کال په پای کې ۲.۴۰ سلنی ته راټیټ شو، د افغانستان بانک د اسعارو ټولیزه شتمني د ۱۳۸۹ کال په لومړیو کې ۴.۱۹۲ ملیارده امریکایي ډالره وه چې د همدې کال په پای کې ۵.۴۰۵ امریکایي ډالرو ته ورسیده. همدارنګه په نړۍ کې د مالي کړکیچ له امله منفي اثراتو سره، بیا هم د افغانستان بانک په ۱۳۸۹ کال کې وتوانیده چې د خپلو مختلفو پانګو اچونو څخه ۲۷.۷۱۵ ملیونه امریکایي ډالره ګټه ترلاسه کړي.

## د بیه لرونکو پاڼو پلورل

په ۱۳۸۹ کال کې په هر اونۍ کې یو ځل د بیه لرونکو پاڼو لیلام ترسره شوی دی چې په ترخ کې ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني بیه لرونکې پاڼې لیلام شوي دي. په همدې موده کې په ۲۸ ورځنی کپیټل نوټ کې په ټولیز ډول ۳۱,۹۶۰,۰۰۰,۰۰۰.۰۰ افغانی او په ۱۸۲ ورځني کپیټل نوټ کې په ټولیزه توګه ۲۱,۴۱۷,۰۰۰,۰۰۰.۰۰ افغانی لیلام شوي دي او بریالي بانکونو ته د بازار عملیات لخوا د دواړو ډولو کپیټل نوټونو د لیلام له امله ۴۵۵,۹۴۰,۶۷۰.۷۸ افغانی ټکتاڼه ورکړل شوی ده، د لا وضاحت لپاره لاندې ګراف وګورئ.



د افغانستان بانک توانیدلی چې د لازمو تدابیرو په نیولو سره په بها لرونکو پاڼو کې د سوداګریزو بانکونو د پانګې اچونې کچه شاوخوا ۱۳ ملیارده افغانیو ته زیاته کړي. چې د ۲۸ ورځنې ټکتاني وروستی نرخ ۲.۴۳ سلنه او د ۱۸۲ ورځنې ۳.۴۳ سلنه محاسبه شوی دی. د یادونې وړ دی چې په بانکي سیستم کې د نقدینه ګی د موجودیت په پام کې نیولو سره، د تېر کال په اوږدو کې د بیه لرونکو پاڼو د ټکتاني نرخ نزولي بهیر پیل کړی دی. د بېلګې په توګه د بیه لرونکو پاڼو د ټکتاني نرخ د ۱۳۸۹ کال په لومړیو کې له ۴ سلنې څخه زیات ؤ چې د کال په پای کې ۲.۴۰ سلنې ته راټیټ شو، د لا وضاحت لپاره لاندې ګراف وګورئ.




## لنډ مهاله اعتباري او د امانت ایښودنې اسانتیاوې

د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې د شپې اوسط ډیپوزټونه (Overnight Deposit Facility) چې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو لخوا ایښودل کېده ۴,۷۰۰,۰۰۰,۰۰۰.۰۰ افغانۍ ته رسیږي او له دې امله د بازار د عملیات دفتر ۴۸,۱۱۱,۱۳۰.۵۷ افغانۍ ټکټانه امانات ایښودونکو ته ورکړې ده. همدا ډول د همدې مودې په ترځ کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو د اجباري زیرمو (Required Reserve) له امله ۱۱۲,۷۲۸,۲۶۸.۷۰ افغانۍ ټکټانه ایښودل شوي ده او همدا ډول په ۱۳۸۹ هجرى لمریز کال کې په ټولیزه توګه ۱۹۴,۰۶۴,۳۲۶.۹۳ افغانۍ د (Overnight Deposit Facility) له لارې بانکونو لپاره تادیه شوې او په مقابل کې یې ۳۲,۹۳۷.۰۳ افغانۍ ټکټانه په لاس راغلې دی.




| | |
|---|---|
| Total portfolion at the beginning of the year 1389 was | 4.192 Billion |
| Total portfolion at the end of the year 1389 was | 4.192 Billion |
| Increased was | 1.213 Billion |




# مالی صورت حساب

بیلانس شیټ

د ګټې او تاوان صورت حساب

# د افغانستان بانک

## بیلانس شیټ

### د ۱۳۸۹ کال د حوت ۲۹ نیټه

ارقام په زر افغانی(۰۰۰)

| شتمنی | یادداشت | ۱۳۸۹ | ۱۳۸۸ |
|---|---|---|---|
| د سرو زرو زېرمې | ۴ | ۴۵,۲۳۱,۵۷۲ | ۳۷,۶۱۱,۰۷۳ |
| د بهرنیو اسعارو نقدي ذخیرې | ۵ | ۸,۶۸۳,۵۲۰ | ۹,۳۶۴,۳۰۴ |
| پر بانکونو او مالي موسساتو طلب | ۶ | ۱۳۱,۷۹۳,۸۷۹ | ۹۲,۸۱۸,۳۹۸ |
| د بیلونو ټریژري(د دولتي لنډ مهاله پورونو اسناد) | ۷ | ۵۶,۸۳۸,۲۰۹ | ۵۸,۹۹۱,۹۵۹ |
| طلبات د پور ورکونې د وروستي مرجع په توګه | ۸ | - | - |
| طلبات او نور د حصول وړ حسابات | ۹ | ۸۱۰,۴۲۱ | ۱۰۰,۶۴۸ |
| پانګه اچول شوي ملکیتونه | ۱۰ | ۹,۰۰۰ | ۴,۸۰۰ |
| جایدادونه او تجهیزات | ۱۱ | ۴,۵۶۶,۹۹۹ | ۴,۰۳۰,۳۶۱ |
| ناملموسه شتمنی | ۱۲ | ۱۰,۹۸۳ | ۱۳,۰۷۳ |
| نوري شتمنی | ۱۳ | ۱۲,۵۹۳,۱۸۸ | ۱۳,۰۳۳,۵۶۰ |
| د شتمنیو مجموعه | | ۲۶۰,۵۳۷,۷۷۱ | ۲۱۵,۹۶۸,۱۷۶ |
| ورکړې مکلفیتونه او د پانګې سهمیه (اکویتی) | | | |
| ورکړې | | | |
| په دوران کې پیسې | ۱۴ | ۱۳۲,۴۴۲,۴۱۸ | ۹۸,۶۹۰,۴۲۵ |
| کپیټل نوټ ( ارزښتناکه اسناد) | ۱۵ | ۱۵,۹۷۲,۵۴۰ | ۱۰,۲۴۰,۳۱۲ |
| د نورو بانکونو او مالي موسساتو طلبات | ۱۶ | ۲۶,۹۱۹,۳۳۶ | ۲۵,۷۸۶,۲۴۶ |
| مشتریانو ته د تادیې وړ | ۱۷ | ۶۱,۸۴۰,۰۶۳ | ۴۶,۹۲۴,۱۶۵ |
| ورکړې( ای . ام . اف ) | ۱۸ | ۳۵,۵۱۱ | ۳۵,۵۱۱ |
| د متقاعدینو حقوق | ۱۹ | ۱,۳۹۱,۴۰۹ | ۱,۲۲۳,۱۰۷ |
| ځنډول شوي مرستې | ۲۰ | ۵۲,۷۶۹ | ۱۱۲,۲۷۲ |
| تدارکات(پرویژنونه) او نور د ورکړې مکفیتونه | ۲۱ | ۸,۱۰۱,۷۶۷ | ۵,۲۰۶,۳۰۱ |
| د ورکړې مجموعه | | ۲۴۶,۷۵۵,۸۱۳ | ۱۸۸,۲۱۸,۳۳۹ |
| پانګه( اکویتی ) | | | |
| پانګه | ۲۲ | (۳۲,۸۲۷,۵۱۵) | (۷,۳۶۶,۹۵۵) |
| بیا ارزښت موندونکی زېرمې | ۲۲ | ۴۶,۶۰۹,۴۷۳ | ۳۵,۱۱۶,۷۹۲ |
| متراکم زیانونه | ۲۲ | - | - |
| د خالصې پانګې مجموعه | | ۱۳,۷۸۱,۹۵۸ | ۲۷,۷۴۹,۸۳۷ |
| د ورکړې او خالصې پانګې مجموعه | | ۲۶۰,۵۳۷,۷۷۱ | ۲۱۵,۹۶۸,۱۷۶ |

له یو څخه تر ۴۰ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي.

| احمد منیر نوید | الحاج محب الله صافی | الحاج محمد عیسی طراب |
|---|---|---|
| د مالي لوی امریت مرستیال او سرپرست | د افغانستان بانک لومړی مرستیال او سرپرست | د افغانستان بانک دویم مرستیال |

## دافغانستان بانک

## د ګټي او تاوان صورت حساب

## د ۱۳۸۹ کال د کب ۳۰ نیټه

| | يادداشت | ۱۳۸۹ | ۱۳۸۸ |
|---|---|---|---|
| | | (ارقام په زر افغانی"۰۰۰") | |
| د ټکټاني عايد | ۲۳ | ۱,۲۸۵,۸۰۷ | ۱,۰۴۹,۱۴۴ |
| د ټکټاني مصارف | ۲۴ | (۶۱۶,۷۸۰) | (۱,۲۹۹,۰۳۲) |
| د ټکټاني خالص عايد | | ۶۶۹,۰۲۷ | (۲۴۹,۸۸۸) |
| د فيس او کميشن عايد | | ۱۲۷,۰۶۹ | ۱۰۰,۳۰۶ |
| د فيس او کميشن مصارف | | (۱۱۴,۶۸۸) | (۱۸۶,۱۲۹) |
| د فيس او کميشن خالص عايد | | ۱۲,۳۸۱ | (۸۵,۸۲۳) |
| د بهرنيو اسعارو د تبادلي له امله ګټه/ تاوان | | (۳,۲۳۵,۰۳۸) | (۱,۱۴۱,۶۷۰) |
| د مالي شتمنيو د پلور له امله خالصه ګټه | | ۳۳۹,۱۱۱ | ۹۲,۳۴۹ |
| نور عملياتي عوايد | ۲۵ | ۱,۳۵۱,۷۳۶ | ۴۴۲,۷۹۳ |
| | | (۱,۵۴۴,۱۹۱) | (۶۰۶,۵۲۸) |
| عملياتي عوايد(مصارف) | | (۸۶۲,۷۸۳) | (۹۴۲,۲۳۹) |
| د کارکوونکو مصارف | ۲۶ | (۶۳۱,۵۴۰) | (۱,۴۱۷,۵۹۱) |
| د بانکنوټونو د چاپ مصارف | ۲۷ | (۲۳۷,۴۳۶) | (۵۶۱,۳۷۷) |
| نور مصارف | ۲۸ | (۱۶۳,۷۰۴) | (۱۱۲,۲۸۰) |
| د تنقيض شويو مامورينو مصارف | | (۵۴,۰۴۱) | (۱۱۲,۳۸۶) |
| د مرستو لګښت د پور ورکوني د وروستي مرجع په توګه | ۸ | (۱۸,۱۰۸,۲۵۰) | - |
| د ساختمان په بيا ارزښت کي کموالي | ۱۱ | (۲۴۳,۵۲۷) | - |
| استهلاک يا فرمايشونه | 12&11 | (۱۲۶,۱۴۱) | (۱۱۵,۸۹۰) |
| خالص عملياتي تاوان | | (۲۰,۴۲۷,۴۲۲) | (۳,۲۶۱,۷۶۳) |
| د تبادلي نرخ کي غير حقيقي ګټه او تاوان | | (۵,۰۳۳,۱۳۸) | (۵,۰۶۸,۴۳۲) |
| کلنی ګټه او تاوان | | (۲۵,۴۶۰,۵۶۰) | (۸,۳۳۰,۱۹۵) |

د ۱ څخه تر ۴۰ شمېرې پورې ضميموي ياداشتونه د دې مالي صورت حساب اساسي برخې جوړوي.



احمد منير نويد
د مالي لوی امريت مرستيال او سرپرست

الحاج محمد عيسی طراب
د افغانستان بانک لومړی مرستيال او سرپرست

الحاج محب الله صافی
د افغانستان بانک دويم مرستيال



# اداره او پراختیا

د حقوقي مشاوريت دفتر

د ريسك منجمنټ اداره ( د مالي خطراتو اداره)

معلوماتي تكنالوژی

بشري منابع

د عامه اعتباراتو د ثبت دفتر

# اداره او پراختیا

## د حقوقي مشاوريت دفتر

۱- د معاملې وړ اسنادو قانون په ولسي جرګه ا و مشرانو جرګه کې تصويب شوی او دنهايي کېدو په حال کې ده.

۲- د بانکدارۍ د قانون په دوو پړاونو کې تعديلات( عاجل تعديلات او تکميلي تعديلات) راوستل شوي دي.

۳- د افغانستان بانک په قانون کې تعديلاتو بانديې اوس مهال کار روان دی.

۴- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۱ ګڼې تصويب پر اساس د( Credit Reporting ) د مقررې منظورې.

۵- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د( Recruitment and Selection ) د پاليسی منظورې.

۶- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د(Sexual Harassment) د پاليسی منظورې.

۷- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د(Staff Training and Development) د پاليسی منظورې.

۸- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۳۸۹/۲/۱۵ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د(PerformanceManagement) د پاليسی منظورې.

۹- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د(Corrective and Disciplinary) د پاليسی منظورې.

۱۰- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د( Grievance and Disciplinary Action) د پاليسی منظورې.

۱۱- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د(HarassmentGeneral) د پاليسی منظورې.

۱۲- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د(Promotion) د پاليسی منظورې.

۱۳- د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د ۱۵ /۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۸ ګڼې تصويب پر اساس د(Conflict of Interest) د پاليسی منظورې.

۱۴- د افغان اماناتو د بيمې د قانون د اجراء کولو په موخه د عدليې وزارت ته د طرحې وړاندې کول.

۱۵- د ولسي جرګې د مالي او بودجې کميسيون ته د افغان اماناتو د بيمې د طرحې وړاندې کول.

۱۶- د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د ۱۶ /۷ /۱۳۸۹ نيټې د ۲۲ ګڼې تصويب پر بنسټ د بهرنيو اسعارو د ليلام په مقررې کې د تعديلاتو منظورې.

۱۷- د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا د ۲۴ /۱۲ /۱۳۸۹ نيټې د ۲۴ ګڼې تصويب پر بنسټ د پولي خدماتو د وړاندې کوونکو په مقررې کې د تعديلاتو منظورې.

## د ريسک منجمنټ اداره ( د مالي خطراتواداره)

### په ۱۳۸۹ کال کې د مالي خطراتو د لوی آمريت کاري راپور

له هغه ځايه چې د هېواد په مالي نظام کې د خلکو د اماناتو خونديتوب د افغانستان بانک ده، نو د افغانستان بانک د افغانستان بانک په توګه په سوداګريزو دواړو (دولتي او خصوصي) بانکونو کې د خلکو د اماناتو خوندي ساتل خپله دنده ګڼي. د افغانستان بانک د مالي خطراتو عمومي مديريت چې له دريو کلونو راپدېخوا د افغانستان بانک په اډانه کې فعاليت کوي، په ۱۳۸۹

کال کې يې اغيزناکه فعاليتونه په دې برخه کې ترسره کړي دي.
لکه څرنګه چې د افغانستان په مالي برخه کې د مالي خطراتو پوهه او تخصص د يو علمي څانګې په توګه کاملاً يو نوې پديده ده، له همدې امله د مالي خطراتو ټيمونو په خپل ټول مهارت او په دې برخه کې د پوهنيزو برنامو څخه په استفادې ( د هېواد دننه او بهر) سوداګريز بانکونه څارلي دي.
د سوداګريزو بانکونو د فعاليت د خوندي ساتلو او پياوړتيا په برخه کې مرسته او همکاري او په مالي نظام کې ثبات او ټيکاو د دويم بازل د طرزالعملونو د پلي کولو له لارې د مالي خطراتو له بنسټيزو دندنو څخه شمېرل کيږي چې په وسيله يې خصوصي بانکونه کولای شي خپل فعاليتونه په سالمه توګه او د خطراتو له کم تهديد سره پر مخ بوځي. له هغه ځايه چې د پانګونې هرې موقع لپاره، خطرات موجود وي، د خطراتو له منځه وړل بې له شکه په هيڅ وجه په بشپړه توګه امکان نه لري او يوازې د همدې مديريت په اړانه کې سوداګريز بانکونه کولای شي خپل خطرات حد اقل ته ورسوي او يا يې کم کړي.
– په همدې کال کې، د څارنيزو برنامو په اړانه کې د مالي خطراتو څارنيزو ټيمونو، د مالي چارو د څارنې له عمومي امريت سره په همغږۍ ټول سوداګريز بانکونه او د بهرنيو بانکونو نمايندګۍ په هېواد کې څارلي دي.
د مالي خطراتو او بانکي څارنې په برخه کې تر ټولو فعال نړيوال بنسټ په نړۍ کې، د بازل کميټه ( Basel Committee)ده.
دا کميټه د نړۍ د عمده صنعتي هېوادونو د افغانستان بانکونو له يو شمېر لوړ پوړو چارواکو څخه جوړه ده، لکه: آلمان، انګلستان، ايټاليا، فرانسه، امريکا، سويس، سويدن، جاپان، کاناډا او لوکزامبورګ چې د معمول له مخې په هرو درېو مياشتو کې يو ځل د تسويې د نړيوال بانک لخوا د سويس د بازل په ښار کې تشکيليږي. په بازل ښار کې د يادو شويو غونډو د جوړيدو له امله، دا کميټه د بازل په کميټه مشهوره شوې ده. د بازل کميټه قانوني صلاحيت نه لري، خو ډېرى غړي هېوادونه يې په ضمني ډول د لارښونو په جراء کولو ګمارل شوي دي.
د مالي خطراتو او موثرې بانکي څارنې او همدا ډول د پانګې د کفايت د مقرراتو په هکله د بازل د بنسټيزو اصولو ( Basel Core Principles)چمتو او خپرول، د بازل د کميټې له تر ټولو مهمو اقداماتو څخه شمېرل کيږي. اوس مهال په نړۍ کې د بانکونو د څارنې طريقه له تطبيقي څارنې څخه د خطراتو اړوند (مبتني) څارنې ته بدلون موندلى دى. په همدې ترتيب، د مالي خطراتو د پيژندلو او د احتمالي مالي کړکيچ د رامنځته کېدو د مخنيوى په موخه له بانکونو څخه د ترلاسه شوي معلوماتو د شننې او څېړنې له لارې د بانکونو د مالي وضعيت دوامداره څارل او څارنيزو موخو ته د رسيدو په موخه اصلاحى اقدمات تر لاس لاندې نيول د مالي خطراتو د اداري له مهمو دندو څخه ګڼل کيږي. غير ساحوي څارنه بانکونو ته د دوامدارې ارزونې امکان برابروي. په بل عبارت وخت په وخت څارنه کولای شي چې د مالي صورتونو د شننې او څېړنې له لارې او له بانکونو، په خاصه توګه د مسئله لرونکو بانکونو څخه د ترلاسه شويو معلوماتو له لارې د يو چټک اقداماتي سيستم په توګه عمل وکړي. د مالي خطراتو لوى مديريت په پام کې لري چې په نږدې راتلونکي کې، يوه ستراتيژي د منظورى په موخه د افغانستان بانک د رياست عالي مقام ته د دويم بازل د طرزالعملونو د پلي کولو لپاره د يو ميکانيزم د جوړولو په موخه وړانديز کړي، ترڅو يې په اړانه کې سوداګريز بانکونه وکولای شي د پانګې په ډېروالي او زيات اختصاص سره له بالقوه خطراتو څخه مخنيوى او هغه تشخيص کړي او پر وړاندې يې مالي موقف ته پياوړتيا وبخښي.

## بشري منابع

۱– د مرکز ډيپارټمنټونو ته د کړنو د ارزونې تشريح، رهنمايي او معرفي Performance Appraisal policy او د کړنو د ارزونې Performance management پاليسى پلي کول.

۲– د مرکز ټولو ډيپارټمنټونو ته د ۱۳۹۰ کال د موخو د ټاکلو د فورمو ليږل.

۳– د مرکز ټولو ديپارټمنټونو ته د ۱۳۸۹ کال د ارزونې د فورمو ليږل.

۴– د بانک محترم عامل پلاوي ته د ۱۳۹۰ کال د امرينو او

عمومي مدیرانو د موخو د ټاکلو د فورمو لیږل.

۵- د ۱۳۸۹ کال د ارزوني او د موخو د ټاکلو د فورمو د معلوماتو ثبتول په کمپیوټر کې.

۶- د افغانستان بانک د نورو نویو پالیسیو پلي کول(د ارزوني پالیسي، د استخدام پالیسي، د منافع او تضاد پالیسي، د ترنینګ پالیسي، اصلاحاتي او انضباطي پالیسي، د عمومي زوروني او ازاروني پالیسي، د جنسي زوروني او ربړوني پالیسي، د ترفیع پالیسي او د نارضایتی او مصالحې پالیسي).

## ۱– مقرریدنه

په ۱۳۸۹ کال کې شاوخوا (۲۰) ځله د انټرویو برنامې سازماندهي شوي چې په پایله کې د ریاست د عالي مقام د احکامو او د محترم عامل پلاوي د تصویبونو پر اساس (۲۸) تنه کارکوونکي، (۳) ډریوران په مرکز او (۴۶) کارکوونکي، (۵) ډریوران او (۵) کارګران د ولایتونو په نمایندګیو کې په دنده ګمارل شوي دي، خو په ورته وخت کې (۴۲) کارکوونکي په مختلفو لاملونو له بانک څخه ګوښه شوي دي.

## ۲– د متقاعدینو مدیریت

۱- په ۱۳۸۹ کال کې شاوخوا ۸۰۰ متقاعدینو او علاقه پرې کوونکو ته حقوق ورکول

۲- د مخکني دفتر په بدل کې هر یو متقاعد لپاره د کارتوتیک ترتیبول

۳- د ریاست د عالي مقام د احکامو او د بانک د عالي شورا د تصویب مطابق د متقاعدینو د معاشونو د لوړولو اجراات

۴- له ۱۲۰۰ څخه زیاتو تنو متقاعدینو د معاشونو انتقال او د فتر ترتیبول د تادیاتي کارتونو په نوي سیستم کې

## ۳– د کارکوونکو د زده کړې مرکز

- د کارکوونکو د زده کړې د مرکز له لارې (۴۵۲) تنو کارکوونکو د ۷ عمومي کورسونو په شمول په ۲۲ خصوصي کورسونو کې د هېواد دننه زده کړې کړې دي.

- ۲۶۸ کارکوونکو په ۱۰۴ برنامو کې د هېواد څخه د باندې زده کړې کړې دي.

- او په ټولیزه توګه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهور رئیس د فرمانونو، د وزیرانو شورا، ولسي جرګې او مشرانو جرګې د تصویبونو، د افغانستان بانک د عالي شورا او عامل پلاوي د تصویبونو مطابق اجراات

## خدمات او ودانۍ

- د پروان او میدان ښار په ولایتونو کې د افغانستان بانک د نمایندګیو د ودانیو ترمیمول او بیا رغول.

- په شېږو پوړیو کې د کابل ښار د دهمزنګ په سیمه کې د مالي شخړو د حل کمیسیون، ADIC او CIB ډیپارټمنټونو لپاره د نوې ودانۍ جوړول.

- د افغانستان بانک د ختیځ زون د امریت په نوې ودانۍ د کار پیلول

- په سرپل، دایکندي، پکتیکا، غور، بادغیس او نیمروز ولایتونو کې د افغانستان بانک د نمایندګیو د ودانیو جوړول

## د عامه اعتباراتو د ثبت دفتر

دا اداره د لومړي ځل لپاره د افغانستان بانک په تشکیل کې جوړه او په دوو برخو (د اعتباراتو ثبت او د تضميناتو ثبت) کې فعالیت کوي. په دې برخه کې پور اخیستونکي، د خپل ټول منقول او نا منقول اموال له مالي موسسو(بانکونو) څخه د پور اخیستنې په بدل کې د تضمین په توګه ثبت او راجستر کوي.